**د آیرلینډ د تابعیت د منلو او مهاجرت خدمتونه**

**د نړیوال خوندیتوب دفتر**

# د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو لپاره معلوماتي کتابګوټی

**مهرباني وکړئ د دغه کتابګوټي ټول معلومات ستاسې د نړیوال خوندیتوب د پوښتنلیک د ډکولو نه مخکې ولولئ**

## د دغه کتابګوټي هدف

دغه معلوماتي کتابګوټی به په آیرلینډ کې له ستاسې سره د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک د ډکولو په کړنلاره باندې په پوهېدو کې مرسته وکړي. دا به هم شرح کړي چې ستاسې حقونه او مسؤلیتونه څه دي او تاسې سره به څوک د دغه غوښتنلیک د ارزونې او سپارښتنو/ تصمیم د پروسې په مذاکره کې دخیل وي. همدغه راز دغه کتابګوټی په نورو زمینو (ساحو) کې د پاتې کېدو د اجازې په اړه هم معلومات چمتو کوي.

## مهم یادښت

تاسې باید دغه معلوماتي کتابګوټی وساتئ څو د غوښتنلیک د پروسې په بهېر کې ورته مراجعه وکړئ.

کله چې تاسې خپل نړیوال خوندیتوب غوښتنلیکجوړوئ، تاسې په یوه قانوني کړنلاره کې داخلېږئ. هغو اسنادو ته چې تاسې یې بشپړولو ته اړتیا لرئ او هغه معلومات چې تاسې یې غواړئ چې د غوښتنلیک د ارزونې او سپارښتنو/ تصمیم د پروسې یوې برخې په توګه یې چمتو کړئ د کړنلارې مرکزي برخه ده. نو ځکه، دا ډېره مهمه ده چې تاسې دا لاندې ټول معلومات ولولئ او حقوقي لارښوونې څرنګه چې اړتیا وي وغواړئ، څو تاسې په داسې یو حالت کې یاست چې خپل غوښتنلیک م کړئ. تاسې باید د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) سره همکاري وکړئ. د همکارۍ نه کولو په صورت کې ښایي ستاسې د غوښتنلیک په نتایجو به ناوړه قانوني اغېزې ولري.

هغه قانون چې نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د ارزونې او تصمیم او همدغه راز آیرلینډ کې د کورنۍ سره د بیا یو ځای کېدو د اجازې په اړه کې تنظیم شوی دی د 2015 کال د نړیوال خوندیتوب مصوبه (2015 مصوبه) ده. تاسې د دغه قانون بشپړې بڼې ته په لاندېنۍ ویب پاڼه کې لاسرسی لرلای شئ:
www.inis.gov.ie او www.ipo.gov.ie

دغه کتابګوټی یواځې د معلوماتو او لارښوونې د کړنلارې په موخه چمتو شوی دی. دغه کتابګوټی یوه قانوني لارښوونه نه ده او د 2015 مصوبې د نړیوال خوندیتوب په اړه قانوني تعبیر نه ورکوي. که چېرته تاسې د 2015 مصوبې په اړه نور معلومات غواړئ چې دا د ستاسې قضیې په اړه اغیزمن وي، تاسې باید حقوقي مشورې ترلاسه کړې.

په داسې حال کې چې هڅه شوې ده څو باوري شي چې د دغه کتابګوټي محتویات صحیح دي، د هرې تیروتنې غفلت لپاره چې پکې وي هیڅ ډول مسؤلیت نه قبلېږي. همدغه راز، دغه کتابګوټي کې هیڅ شی د استازیتوب او وعدې په توګه کوم قانوني جبر او التزام د عدلیې او مساوات د وزیر (وزیر) یا د کومې بلې خوا له اړخه، د نړیوال خوندیتوب او حمایې دفتر د ماموارنو او کارکوونکو په ګډون له خوا کومه وعده نه ورکول کېږي، پرته له کوم التزام چې د قانون په واسطه منځ ته راغلی وي.

د نړیوال خوندیتوب دفتر
د آیرلینډ د تابعیت د منلو او مهاجرت خدمتونه

جنوري 2017

## محتويات


1 لومړۍ برخه نړیوال خوندیتوب څه شی دی او زه څنګه ورته غوښتنلیک ورکولی شم؟

1.1 نړیوال خوندیتوب څه شی دی؟

2.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره څوک غوښتنلیکورکولای شي؟

3.1 آیا د یوه غوښتنلیک جوړول زما فردي حالاتو کې د نړیوال خوندیتوب د لپاره صحیح اقدام دی؟

4.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره زه خپل غوښتنلیک چېرته جوړ کړم؟

5.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره زما له غوښتنلیک سره به څوک سر او کار (معامله) لري؟

6.1 د پاتې کېدو لپاره اجازه څه شی دی او ورته څنګه درخواست کولای شوم؟

7.1 د کورنۍ سره بیا یوځای کېدل څه دي؟

2 یمه برخه ګټوري اصطلاحګاني

1.2 د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) څه شی دی؟

2.2 د نړیوال خوندیتوب د درخواستونو محکمه (IPAT) څه شی دی؟

3.2 وزیر څوک دی؟

4.2 څوک مهاجر ګڼل کېږي؟

5.2 د متمم خوندیتوب وړ څوک دی؟

6.2 سخت او خطرناک زیان څه شی دی؟

7.2 په اجباري توګه د بیا وړونکو ستنول یا refoulement، ممانعت څه شی دي؟

8.2 د نړیوال خوندیتوب څخه څوک محروم (وتلی) دی؟

9.2 EURODAC څه شی دی؟

10.2 د سفر عمومي ناحیې ساحه څه شی دی؟

3 یمه برخه د نړیوال خوندیتوب کړنلاره

1.3 کله چې د نړیوال خوندیتوب کړنلارې لپاره زه غوښتنلیک جوړوم (ورکوم) د څه تمه کولی شوم؟

2.3 د غوښتنلیک د کړنلارې لومړني ګامونه څه دي؟

3.3 زما د غوښتنلیک قبلېدل څنګه ټاکل کېدای شي؟

4.3 که چېرته ماته پخوا په پخواني غوښتنلیک د نړیوال خوندیتوب لپاره فیصله را رسېدلې وي، آیا زه بل غوښتنلیک ور کولی شم.

5.3 لومړنی مرکه څه ده؟

6.3 آیا له ما څخه به نور ګوتو نخښې او بایومیټریک معلومات واخیستل شي؟

7.3 آیا زما د نړیوال خوندیتوب د پروسې په اړه به ماته لیکلی معلومات را ورسېږي؟

8.3 کله چې زه خپل د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوم د څه شي ضرورت دی چې زه یې له ځانه سره راوړم؟

9.3 د مؤقت اوسېدو تصدیق (TRC) څه شی دی آیا زه به یې لاس ته راوړم؟

10.3 څه به وي چې که چېرته زه معلول یا ځانګړي اړتیاوې ولرم؟

11.3 که چېرته زه په توقیف او یا زندان کې یم د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ورکولای شم؟

12.3 هغه شرایط کوم دي چې په کې د نړیوال خوندیتوب یو درخواست کوونکی توقیف کېدای شي؟

13.3 څه به پېښ شي که چېرته زه د 18 کلنی نه د لږ عمر متعلقین ولرم؟

14.3 زه چېرته حقوقي لارښووني لاسته راوړی شم؟

15.3 آیا زه کولی شم چې د نړیوال خوندیتوب لپاره خپل غوښتنلیک بېرته واخلم؟

## 4 مه برخه مرکه او ارزونه

1.4 زه د نړیوال خوندیتوب په خپلې مصاحبې کې د څه شي تمه کولای شم؟
2.4 آیا زه کولای شم چې د خپل نړیوال خوندیتوب (حمایې) مرکې ته د ملاتړ لپاره له ځان سره څوک راولم؟
3.4 څه به پېښ شي که چېرته زه مرکې ته لاړ نه شم او یا مرکې ته په حاضرېدو کې پاتې را شم؟
4.4 آیا زه دنده لرم چې د غوښتنلیک د پروسې د کړنلارې سره مرسته وکړم او د پاتې را تلو به یې څه نتیجه وي؟
5.4 د ارزونې غوره طرزالعمل څه دی، د شخص د مرکې په ګډون؟
6.4 زما د مرکې څخه وروسته به څه پېښ شي؟
7.4 زما د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک احتمالي نتیجه به څه وي؟
8.4 څه به پېښ شي که چېرته زما د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک په اړه د 6 میاشتو دننه سپارښتنې را و نه رسیږي؟

## 5 مه برخه د استیناف غوښتنلیکونه او نړیوال خوندیتوب

1.5 آیا زه د دې وړ یم چې د یوې سپارښتنې په اړه د استیناف غوښتنه وکړم نه د نړیوال خوندیتوب او نورو سپارښتنو او نظریو لپاره؟
2.5 زه څرنګه د استیناف غوښتنه وکړم؟
3.5 د وخت محدودیتونه څه دي که چېرته زه یو د استیناف درخواست تسلیم کړم؟
4.5 آیا زه خپل د استیناف درخواست له پاره د قانوني استازیتوب مستحق یم؟
5.5 زما د استیناف درخواست به څومره ژر واورېدل شي؟
6.5 زه د خپل استیناف د کړنلارې په اړه چېرته ډېر معلومات پیدا کولای شم؟

## 6 مه برخه د مهاجرت یا د ضمنیخوندیتوب حالت تشریحات

1.6 د سپارښتنې د را رسېدو څخه وروسته څه پیښیږي؟

## 7 مه برخه ستاسې حقونه که چېرته نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړئ

1.7 د نړیوال خوندیتوب ترلاسه کولو سره زما حقونه څه دي؟

## 8 مه برخه د نړیوال خوندیتوب د کړنلارې په ترڅ کې ستاسې حقونه او مسؤولیتونه؟

1.8 د نړیوال خوندیتوب د **کړنلارې** په ترڅ کې زما حقونه څه دي؟
2.8 د نړیوال خوندیتوب د **کړنلارې** په ترڅ کې زما مسؤولیتونه څه دي؟

## 9 مه برخه ځان ته (یوازې) ماشومان

1.9 څه به پېښ شي که چېرته زه وغواړم د یو ماشوم په توګه د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک وړکړم؟
2.9 د ماشوم او کورنۍ موسسې (TUSLA) د غوښتنلیک طرزالعمل زما نړیوال خوندیتوب لپاره څنګه دی؟
3.9 د حقوقي مرستې مدیره هېئت (LAB) ته د18کلو څخه تر کم عمر ماشوم د راجع کولو طرزالعمل څه دی؟

**10 مه برخه د اروپا د اتحادیې د ډبلن مقرره**

1.10 د اروپا د اتحادیې د ډبلن مقرره څه ده؟

**11 مه برخه په خپله خوښه د بیرته ستنیدو غوراوي**

1.11 آیا زه خپل اصلي تاتوبي د زیږیدلو هیواد/ دایمي استوګنځي ته د خپلې خوښې ستنیدو اختیار لرم؟

**12 مه برخه نور معلومات**

1.12 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو د لومړیتوب لپاره طرزالعمل څه دی؟
2.12 د نړیوال خوندیتوب دفتر ته د معلوماتو د چمتو کولو لپاره طرزالعمل څه دی؟

**13 مه برخه د پاتې کیدو اجازه**

1.13 د پاتې کیدو اجازې لپاره زه څنګه درخواست کولای شم؟
2.13 د وزیر د فیصلې لپاره څه معلومات اړوند دي چې هیواد (آیرلینډ) کې د پاتې کیدو لپاره اجازه ورکړي یا ور نه کړي؟
3.13 که زه چیرته د پاتې کیدو اجازې لپاره رد شم څه به پیښ شي؟
4.13 که ماته چیرته د پاتې کیدو اجازه راکړل شي څه به پیښ شي؟
5.13 د پاتې کیدو اجازې د بیا ځلې د ''بیا کتنې'' د پاتې کیدو اجازې لپاره څنګه کار کوي؟
6.13 د پاتې کیدو اجازې لاس ته راوړلو په صورت کې به څه پیښ شي که چیرته زه فیصله وکړم چې له IPO څخه IPAT ته د خوندیتوب د سپارښتنې د استیناف غوښتنه وکړم؟
7.13 که چیرته بیا کتنې د طرزالعمل نه وروسته د پاتې کیدو اجازې لپاره رد شم څه به پیښ شي؟

**14 مه برخه د کورنۍ بیا یوځای کیدل**

1.14 د کورنۍ بیا یوځای کیدل څه دي؟
2.14 آیا د وخت محدودیت شته؟
3.14 د کورنۍ غړی څوک دی؟
4.14 د نړیوال خوندیتوب د درخواست په فورمه او پوښتنلیک کې زه باید کوم معلومات ځای کړم؟
5.14 د کورنۍ بیا یوځای کیدلو لپاره څنګه غوښتنلیک ورکړم؟

**15 مه برخه ستاسي استوګنځی**

1.15 هرکلي ځای/ د استوګنځي معلومات

**ضمیمه – د تماس تفصیلات**

## 1 لومړۍ برخه
## نړیوال خوندیتوب څه شی دی، او زه څنګه ورته غوښتنلیک ورکولئ شم؟

### 1.1 نړیوال خوندیتوب څه شی دی؟

1.1.1 د نړیوال خوندیتوب دوه بنې د نړیوال خوندیتوب د2015 مصوبې په واسطه تر پوښښ لاندې دي چې نومونه یې عبارت دي د مهاجرت موقف او ضمني خوندیتوبڅخه.

**د مهاجرت موقف**

2.1.1 ددې لپاره چې د یو مهاجر په توګه وپیژندل شي، ته باید داسي یو شخص یې څوک چې، ښه قوي ویره د دغه لاندې مزاحمتونو له لاسه:

(i) نژاد (توکم)
(ii) دین او مذهب
(iii) ملیت
(iv) سیاسي عقیدې یا
(v) د یو ځانګړې ټولنیزې ډلې غړیتوب

چې هغه /هغې د ملیت تابعیت هېواد څخه دباندې او قادر نه وي یا، د دغسې ویرې لرونکی وي، چې دغه هېواد د خوندیتوب د برخمنتوب څخه نا خوښ وي، یا یو بې ملکه شخص وي، څوک چې، د هغه د خپل پخواني همېشه لپاره د اوسېدو استوګنځی د همغه علت له مخې چې پورته یاد شو، قادر نه دی، یا داسې ویره لري، چې خوښ نه وي چې بېرته ستون شي.

**د ضمني خوندیتوب موقف**

3.1.1 که چېرته ته دا فیصله و شوه چې تاسې مهاجر نه یاست، تاسې ښایي د ضمني خوندیتوب وړ وګڼل شئ، *که چېرته کوم بل د توجه وړ په دې باور چې تاسې به د ستنېدو په صورت کې کوم بل رېښتینې خطر او خپل پیدایښتي هېواد یا تابعیتي استوګنځي کې د سخت خطر څخه ځورېږئ.* د نورو معلوماتو لپاره **2.5.1 برخه وګورئ**.

### 2.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره څوک کولای شي؟

1.2.1 یو څوک چې د 18 کلو د عمر او یا زیات وي او د هېواد (آیرلینډ) په سرحدونو کې وي او یا څوک په هېواد (آیرلینډ) کې د نړیوالي حمایې لپاره یو غوښتنلیک ورکړي.

(a) د هغه یاد هغې له خپلې خوا څخه

(b) د بل چا له خوا چې د 18 کالو لږ عمر ولري د چا د پالنې او حمایې مسؤولیت په غاړه لري.

2.2.1 داد غوښتنلیک په اړه دی د چا چې غوښتنلیک ته یې اشاره شوی **په 1. 2. 1 فقره کې**
(a) چې د قبلېدو وړ وګڼل شي **(3.3 فقره وګورئ)** ، یا

(b) که وروستنی غوښتنلیک یې قبول شوی وي، د وزیر په موافقه قبول شوی وي **(3.4 بند وګورئ)**

مهرباني وکړئ **3.13 برخه** د متکي ماشومانو په اړه وګورئ.

**3.1 آیا زما د فردي حالاتو لپاره د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک یو صحیح کار دی؟**

1.3.1 تاسي یوازې د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کوئ که چیرې تاسي خپل هېواد چې پکې زېږېدلي یاست چې پخوانی مو دایمي تابعیت استوګنه درلوده ویریږئ.

2.3.1 که تاسي بل کوم دلیل لرئ چې په هېواد (آیرلینډ) د پاتې کېدو لپه کوئ لطفاً د نورو معلوماتو لپاره دغه ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ. www.inis.gov.ie

**4.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره باید زه چېرته غوښتنلیک ورکړم؟**

1.4.1 تاسي باید وزیر ته <u>پخپله</u> غوښتنلیک ورکړئ. څومره چې ژر کېدای شي، تاسي به دا په هوايي ډګر، سمندري بندر کې کله چې تاسي آیرلینډ ته را ورسېږئ او یا (هېواد ته د را ننوتلو سره) په

**International Protection Office,**
**Irish Naturalisation and Immigration Service,**
**79-83 Lower Mount Street,**
**Dublin 2.**
**D02 ND99**

**5.1 زما د نړیوال خوندیتوب لپاره له غوښتنلیک سره به څوک سر او کار ولري؟**

1.5.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کولو سره، تاسي غواړئ چې وزیر ګوري چې تاسي د مهاجرت له اعلامیې سره برابر یاست یا د ضمني خوندیتوب د اعلامیې سره.

2.5.1 د غوښتنلیک د طرزالعمل د یوې برخې په توګه، ستاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک به په عادي ډول د هغه چارواکو له خوا وارزول شي چې د نړیوال خوندیتوب په دفتر کې د نړیوال خوندیتوب د چارواکو په توګه پېژندل کېږي. دا د آیرلینډ د تابعیت د منلو او مهاجرت خدمتونو یوه برخه ده، چې دا بیا په عدلیې او مساوات ریاست کې دی. په IPO کې نور وګړي به هم په دغه پروسه کې ګډون ولري.

**6.1 د پاتې کېدو لپاره اجازه څه شی دی او ورته څنګه درخواست کولای شم؟**

1.6.1 که چېرته IPO توصیه کوي چې تاسي مهاجرت موقف او ضمني خوندیتوب سره برابر نه یاست وزیر به وګوري چې په هېواد (آیرلینډ) کې د پاتې کېدو اجازه درکړي که نه بل دلیل (د مثال په توګه، ستا د کورنی یا خصوصي شرایط) دغه کار به هم د نړیوال خوندیتوب د دفتر له خوا اجرا کېږي. تاسي باید اړوند معلومات د نړیوال خوندیتوب په پوښتنلیک کې تنظیم کړئ. همدغه راز تاسي باید ستاسي د حالاتو د بدلون په صورت کې IPO هم خبر کړئ، کېدای شي چې ستاسي د پاتې کېدو د اجازې په رد یا ورکولو په تصمیم پورې اړه ولري.

دې سره سر او کار په **13 برخه** کې په تفصیل سره کېږي.

## 7.1 د کورنۍ سره بیا یوځای کېدل څه دي؟

1.7.1 که تاسي ته مهاجر یا ضمني خوندیتوب درکړ شي، د صدور نه یو کال په موده کې وزیر ته به ستاسي د کورنۍ د ځینو غړو د اجازې درخواست کوې، چې هېواد (آیرلینډ) ته داخلېدو او د استوګنې لپاره اجازه ورکړل شي. **دا یوازې په زوجې، مدني شریک (چېرته چې تاسي واده کړی ؤ یا مدني شرکت کوم شخص ته د خوندیتوب د غوښتنلیک تر وخته) څخه نا واده شوي ماشومان د 18 نه کم اویو وړوکي لمسي، مور او پلار او د درخواست کوونکي نږدې خپل، چې د 18 کلنۍ نه کم وي.**

2.7.1 وزیر به غوښتنلیکونه پلټي، که چېرته رضایت یي کړې وې کوم شخص چې ستاسي د کورنۍ غړی دی او د کورنۍ د بیا یوځای کېدو د مقررې تر پوښښ لاندې دی، هغه شخص ته به د استوګنې اجازه ورکړای شي.

3.7.1 کېدای شي وزیر د یو شمېر دلیلونو له مخې د کورنۍ یوه غړي ته د اجازې صدور رد کړي د عامه امنیت په مصلحت، عامه قرارداد یا د عامه نظم یا چېرته چې د کورنۍ داسي غړی باید وي، یا دی، له مهاجرت څخه محروم شوی وي یا یو څوک چې د متمم خوندیتوب د شرایطو لرونکی وي په ګډون.

4.7.1 دا مهمه ده چې وکتل شي چې تاسي کله د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوئ تاسي نه هیله کېږي چې د کورنۍ د غړو چې وروسته د کورنۍ د بیا یوځای کېدو لپاره ټاکل شوي ټول تفصیلات چمتو کړئ چې تاسي ته د وزیر له خوا د مهاجرت د ضمني خوندیتوب درکړل شي.

5.7.1 مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره **14برخه** وګورئ.

## 2 یمه برخه
## ګټوري اصطلاحګاني

### 1.2 د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) څه شی دی؟

1.1.2 IPO د آیرلینډ د تابعیت د منلو او مهاجرت خدمتونو (INIS) کې یو دفتر دی چې د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیکونو د ارزوني او چمتو کولو مسؤولیت لري. د IPO مشر د نړیوال خوندیتوب مشر دی چې د نړیوال خوندیتوب افسرانو ټیم لارښووني کوي. د IPO کارکوونکي به هم د وزیر له خوا فیصله وکړي، چې په هر صورت په هېواد (آیرلینډ) کې په نورو عنوانونو نا موافقو درخواست کوونکو ته د نړیوال خوندیتوب له پاره د اوسېدو امر یا اجازه ورکړي.

### 2.2 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو محکمه (IPAT) څه شی دی؟

1.2.2 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو محکمه یا (IPAT) یوه خپلواکه اداره ده، د دې لپاره جوړه شوې ده چې د نړیوال خوندیتوب او حمایې د غوښتنلیکونو په اړه تصمیم ونیسي او همدغه راز نور غوښتنلیکونو کار د2015 نړیوال خوندیتوب د مصوبې او د نورو اړوندو قوانینو ته مراجعه کېږي.

### 3.2 وزیر څوک دی؟

1.3.2 وزیر د عدلیې او مساوات وزیر دی.

### 4.2 څوک مهاجر ګڼل کېږي؟

1.4.2 د دې لپاره چې د یو مهاجر په توګه و پېژندل شي ، ته به داسې یو څوک یې چې، ښه قوي ویره د دغه لاندې مزاحمتونو له لاسه ولري:

(i) ژاد (توکم)
(ii) دین او مذهب
(iii) ملیت
(iv) سیاسي عقیدې یا
(v) د یو ځانګړي ټولنیزې ډلې غړیتوب

چې هغه /هغې د ملیت تابعیت هېواد څخه دباندې او قادر نه وي یا، د دغسې ویرې لرونکی وي، چې دغه هېواد د خوندیتوب د برخمنتوب څخه ناخوښي وي، یا یو بې ملکه شخص وي، څوک چې، د هغه د خپل پخواني همېشه لپاره د اوسېدو استوګنځی د همغه علت له مخې چې پورته یاد شو، قادر نه دی، یا داسې ویره لري، چې خوښ نه وي چې بېرته ستون شي.

د وګړو ځانګړې کټګورۍ دي چې د مهاجرت د موقف څخه ایستل شوي دي او د مهاجرت حیثیت نه ورکول کېږي **(2.8 مه برخه وګورئ)**

## 5.2 د ضمني خونديتوب لپاره څوک د شرایطو لرونکی دی؟

1.5.2 دا د مهاجر په څېر یو حالت دی. دا هغه چاته ورکول کېږي چې یو څوک د مهاجر په شرایطو برابر نه وي، که چېرته IPO وګوري چې شخص په رښتیا د یو داسي خطر څخه رنځ وړي چې د هغه یا هغې په پلرني هېواد کي سخت جدي زیان موجود وي.

دقیق تعریف یې دادی چې *شخص* د ضمني *خوندیتوب د ټاکلو شرایطو لرونکی وي*

(i) څوک چې د اروپایي اتحادیې د غړي هېواد استوګن نه وي.

(ii) څوک چې د مهاجر شرایطو لرونکی نه وي.

(iii) د هغه په اړه قوي حالتونه ښودل شوي دي چې هغه، خپل پلرني هېواد ته یې هغه هېواد چې هغه یې دایمي ټاټوبی ؤ، به له داسي سخت خطر سره مخ شي چې جدي ډول رنځ وړي، څوک چې په دې ونه توانېږیيا د داسي د یو خطر لرونکی وي، ونه کړلی شي چې خپل ځان د هېواد لپاره یې ګټور وګڼي، او

(iv) څوک چې د شرایطو لرلو څخه د متمم خوندیتوب څخه د ځینو مشخصو لاملونو له کبله بې برخې وي. مهرباني وکړئ **2.8.2**بند وګورئ.

## 6.2 سخت او جدي خطر څه شی دی؟

1.6.2 *سخت او جدي خطر معنی ده:*

(i) د ځرولو جزا او په دار ځړول

(ii) شکنجه یا غیر انساني یا سپک رفتار، یا د هغه یا هغې په پلرني هېواد کي یا اصلي هېواد کي یا پخواني دایمي ټاټوبي کي یو چاته جزا، یا

(iii) په نړیوال یا داخلي وسله وال جنګي حالاتو کي د یو عادي شخص ژوند ته جدی او انفرادي تهدید د یو سر نه تاو تریخ والی یا ظلم.

## 7.2 د شړلو (بېرته ستنول خپل کورنی هیواد ته) منع کېدل څه معنی لري؟

1.7.2 د بېرته ستنهولو منع کول، په معنی داده چې وزیر باید د یو څوک (یو کس) د سرحد څخه خارج یا بېرته ستون نه کړي، چې د وزیر په باور به:

(i) د شخص ژوند یا ازادي به د نژاد، دین، ملیت، د یوه خاص ټولنیز ګروپ یا سیاسي عقیدې له کبله تهدید یا وګواښول شي، یا

(ii) یو جدي خطر دی چې شخص د ځرولو جزا ، شکنجې، یا غیر انساني سپکاوي چلند یا جزا سره مخامخ شي.

وزير به له دغې تکليف سره رضايت وکړي په هر حال شخص ته د مهاجر حيثيت يا ضمني  خونديتوب ورکړ شو.

**8.2 څوک له نړيوال خونديتوب څخه مستثنی دی؟**

1.8.2 يو شخص له مهاجرت هغه وخت مستثنی دی چېرته چې:

(i) هغه چې له موسسو او ملګرو ملتو له نماينده ګيو (بې له د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتو کمشنري (UNHCR))، او همدارنګه د ملګرو ملتو د سوکالي او کار اداري (UNRWA) څخه خونديتوب يا مرسته ترلاسه کوي، هغه چې خونديتوب يا مرسته يې نه وي قطع کړې.

(ii) هغه چې د هېواد د با صلاحيته چارواکو له خوا پېژندل شوی وي کوم کې چې هغه يا هغې چې په هېواد کې يې استوګنه اشغال کړې چې حقونه او مسؤوليتونه لري چې د مالکيت ضميمه دي، يا هغو سره معادل حقونه او التزامونه لري، يا

(iii) د ملاحظې ځيني جدي دليلونه دي چې هغه

a. د سولې په وړاندې کې د يو جرم مرتکب شوی دی، يو جنګي جرم، يا د بشريت ضد يو جرم يې کړی، لکه چې نړيوال اسباب يې تنظيم کړي وي چې د داسې جرم په اړوند يې وړاندوينه يې کړې،

b. د هېواد (آيرلينډ) نه د باندې هېواد (آيرلينډ ) له را تللو نه مخکې يو جدي غير سياسي جرم يې کړی وي، يا

c. د ملګرو ملتو د اصولو او هدفونو پر خلاف د اعمالو مجرم وي.

لطفاً په ياد ولرئ چې دغه محروميت هلته د پلي کېدو وړ دي چېرته چې جدي ملاحظه موجوده وي چې شخص تحرکات کړي وي يا <u>بې له دې د جرم په اجرا کې يې ګډون کړی</u> وي يا کوم عمل يې چې (iii) فقره کې اشاره شوې.

2.8.2 يو شخص هغه وخت له ضمني نه محروم وي چې دليلونه جدي وګڼل شي چې هغه:

(i) چې د سولې په وړاندې د جرم مرتکب شوی وي، يوجنګي جرم، يا د بشر يت په وړاندې لکه چې نړيوال اسباب يې تنظيم کړي وي چې د داسې جرم په اړوند يې چمتو کړې وي،

(ii) د يو جدي جرم مرتکب شوی وي.

(iii) د ملګرو ملتو د اصولو او هدفونو د خلاف د اعمالو مجرم وي.

(iv) ټولنې يا هېواد (آيرلينډ) امنيت ته خطر جوړوي.

لطفاً په یاد ولرئ چي دغه محرومیت هلته د پلي کېدو وړ دي چېرته چي جدي ملاحظه موجوده وي چي شخص تحرکات کړي وي یا بې له دې د جرم په اجرا کې یې ګډون کړی وي یا کوم عمل یې چي )iv) – (i( . فقرو کې اشاره شوې.

3.8.2 یو شخص هغه وخت له ضمني خوندیتوب د شرایطو نه محروم وي چي د هېواد (آیرلینډ) نه د باندې هېواد (آیرلینډ ) له را تللو نه مخکې یو جدي غیر سیاسي جرم یې کړی وي چې **2.8.2 فقرې** کې اشاره نه وي شوې، کوم چې که په هېواد (آیرلینډ ) کې مرتکب شوی وي هغه د زنداني کولو په واسطه د سزا وړ دی که چیرې هغه یا هغې اصلي هېواد پخوانی دایمي ټاټوبی پریښی وي یوازې د دې لپاره چې د جزا څخه ځان وساتي کوم چې د جرم په نتیجه کې وه .

## 9.2 EURODAC څه شی دی؟

یوروډاک یا (EURODAC) د ګوتو د نخښې د تبادلې او پرتلې لپاره د قرارداد کونکو ملکونو تر منځ د EU دبلن مقررې د اغیزمن استعمال لپاره یو بریښنایي سیستم دی. مهرباني **وکړئ 10** مه برخه د EU د بلین مقررې د معلوماتو لپاره وګورئ.

## 10.2 د سفر د ګډې ساحې څخه منظور څه دی؟

1.10.2 د سفر ګډه ساحه (CTA) شامل ده په آیرلینډ، برتانیه the United Kingdom، د چینل جزیرې Channel Islands او د مېن جزیره the Isle of Man.

## 3 یمه برخه
## د نړیوال خوندیتوب پروسه

**1.3 کله چې د نړیوال خوندیتوب لپاره زه غوښتنلیک جوړوم (ورکوم) د څه تمه کولی شم؟**

1.1.3 کله چې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوئ تاسي تمه لرلی شئ چې:

(i) تاسي سره به په احترام، عزت او بې پریتوب له لاری چلند وشي پرته له ستا سي د عمر، معلولیت، ملیت، توکم، نژاد، جنسي تمایل، دین او عقیده چلند وشي.

(ii) IPO پوهېږي چې دغه پروسه به تاسي ته نا اشنا وي ، تاسي ښایي ویره تجربه کړې وي.، او تاسي به ښايي چې خپل ځان په اړه ښکاره حساس معلومات ترلاسه کړئ.

(iii) د دې لپاره ستاسي حالت کې ځانګړي شرایط به په پوره ډول په پام کې ونیول شي کله چې ستاسي غوښتنلیک تر کتنې لاندې نیول کېږي. غواړي چې تاسي د کوم حساس معلومات په شریکولو کې خوندي و اوسئ، د مثال په ډول، د زنا بالجبر په اړه، شکنجه، کوم بد چلند، یا ستاسي جنسي تمایل، چې ستاسي غوښتنلیک پورې اړوند وي. ستاسي غوښتنلیک په اړه چمتو شوي ټول معلوماتو سره به د قانون سره سم په محرم ډول چلند کېږي او ستاسي د کورني هېواد چارواکو او آیرلینډ کې ستاسي د هېواد استازو ته به افشأ (ښکاره) نه شي.

(iv) آیا ستاسي ځانګړې تجربې به داسې وي چې دا به آسانه وي چې تاسي د خپلو تجربو په اړه کوم سړي یا ښځې سره خبرې وکړئ. که امکان ولري، IPO به یې تطبیق کړي.

(v) تاسي به وپوښتل شئ چې که تاسي خوښ یاست له IPO سره په انګلیسي خبرې وکړئ یا تاسي ژباړونکي ته ضرورت لرئ. تاسي مستحق یاست چې چېرته که ضرورت وي او امکان ولري، یو ژباړونکی به چمتو شي څو مناسبې اړیکې بر قرار شي.

**2.3 د غوښتنلیک د کړنلارې لومړني ګامونه څه دي؟**

1.2.3 دا مهمه ده چې مخکې له دې چې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکړئ، تاسي د لومړنۍ مرکې د یوې برخې په توګه یو د نړیوال خوندیتوب افسر قانع کړئ چې تاسي ورته غوښتنلیک سپارئ.

**3.3 زما د غوښتنلیک منل کیده به څنګه ټاکل کیږي؟**

1.3.3 مخکې تر دې چې تاسي د نړیوالی خوندیتوب لپاره غوښتنلیک چمتو کړئ، د مقدماتي مرکې د یوې برخې په توګه باید تاسي د نړیوال خوندیتوب مامور قناعت ترلاسه کړئ څو ستاسي غوښتنلیک د منلو وړ دی.

2.3.3 ستاسي غوښتنلیک د قبلولو وړ نه دی (تاسي به مستحق نه یاست چي د خوندیتوب لپاره درخواست وکړئ) که چیرته:

(i) که چیرته د EU بل غړي هیواد تاسي ته د مهاجرت موقف یا ضمني خوندیتوب درکړی وي. او / یا

(ii) که چیرته بل هیواد، دEU غړي هیوادو څخه پرته

a. چي تاسي یي د یو مهاجر په توګه پیژندلی یاست او تاسي لا تر اوسه له دغه خوندیتوب څخه ګټه اخلئ.

b. تاسي لا له بلي خوا نه په هیواد کي د پوره خوندیتوب څخه برخمن یاست، د بیرته نه شړلو د اصولو د په ګډون او تاسي به بیا هیواد ته د بیا داخلیدو څخه ګټي اخلئ.

3.3.3 د نړیوال خوندیتوب مامور به تاسي ته د ستاسي د غوښتنلیک د قبلیدو په اړه او د ستاسي د لومړنی مصاحبي په تعقیب سپارښتني درکړي.

4.3.3 آیا تاسي ته د نړیوال خوندیتوب مامور څخه کوم نظر رسیدلی دی چي ستاسي غوښتنلیک د قبلیدو وړ نه دی، تاسي به د دلیلونو سره یو لیکلی راپور تر لاسه کړئ.

5.3.3 تاسي IPAT ته په یوه ټاکلي موده کي د استیناف کولو مستحق یاست، د استیناف په اړه نور معلومات په 5 مه برخه کي پیدا کولای شئ. **د IPAT فیصله به د اوریدو نه پرته کیږي.**

6.3.3 که چیرته نړیوال خوندیتوب مامور سپارښتنه وکړي چي غوښتنلیک مو قبلیدو وړ نه دی او سپارښتنه د IPAT له خوا تائید شي، وزیر به باید فیصله کوي چي ستاسي غوښتنلیک د قبلیدو وړ نه دی.

7.3.3 که چیري غوښتنلیک د قبلیدو وړ موندل شي، د IPO یا دIPAT د هر یو له خوا، دا به د وزیر له خوا IPO ته د پلټني او تصمیم لپاره قبول شي.

**4.3 که چیرته ماته پخوا په پخواني غوښتنلیک د نړیوال خوندیتوب لپاره فیصله را رسیدلي وي، آیا زه بل غوښتنلیک ورکولئ شم.**

1.4.3 یو شخص نه شي کولای چي د نړیوال خوندیتوب لپاره د وزیر د موافقي نه پرته دویم غوښتنلیک یا نور غوښتنلیکونه (*وروستي غوښتنلیک*) ورکړي.

2.4.3 د وزیر د موافقي لپاره یو غوښتنلیک باید چي د نړیوال خوندیتوب لپاره بل لیکلی غوښتنلیک به وزیر ته وکړي او د نړیوال خوندیتوب مامور له خوا باید ملاحظه شي.

3.4.3 د دې لپاره چي د بل وروستي غوښتنلیک مستحق شئ، دا لاندې حالاتو سره باید موافق وي:

(i) څنګه چي د نړیوال خوندیتوب د پخواني غوښتنلیک څخه وروسته نوي عناصر یا موندني راپورته شوي دي یا د ستاسي له خوا چمتو شوي دي کوم چي ډیر داسي د پام وړ احتمال شته چي تاسي د نړیوال خوندیتوب وړتیا صلاحیت ولرئ.

او

تاسي د خپل نقصان او غلطۍ کي ته وئ، د دې وړ نه وئ چي دا موندني او عناصر چمتو او د خپل غوښتنلیک په هدف یې وړاندې کړئ.

یا

(ii) که چېرته پخوا نی غوښتنلیک بېرته واخلئ او یا ګومان کړئ چي بېرته یې واخلئ، تاسي د غوښتنلیک د بېرته اخیستلو په خیال کي وئ، ستاسي د خپل نه غلطۍ له مخې، د پخوا نی غوښتنلیک د تعقیب نه وړتیا له مخې.

4.4.3 که چېرته د نړیوال خوندیتوب مامور وړاندیز کوي چي وزیر به تاسي ته د بل غوښتنلیک د ورکولو موافقه درکړي، وزیر به تاسي ته موافقه درکړي او تاسي به بیا غوښتنلیک وکړئ.

که چېرته د نړیوال خوندیتوب مامور سپارښتنه کوي چي وزیر به هغه یا هغې سره د بل غوښتنلیک د ورکولو موافقه ونه کړي، تاسي به یو لیکلی راپور د دلیلونو سره تر لاسه کړي.

5.4.3 تاسي مستحق یاست چي IPAT ته په یوه ټاکلي موده کي د غوښتنلیک کولو مستحق یاست، د غوښتنلیکونو په اړه نور معلومات په 5 مه برخه کي پیدا کولای شئ. **د IPAT فیصله به د اورېدو نه پرته کېږي.** که چېرته تاسي نه غواړئ چي د استیناف غوښتنه وکړئ وزیر به د وروستي غوښتنلیک د ورکولو موافقه رد کړي.

4.3. که تاسي په خپل استیناف کي بریالي وئ، وزیر به موافقه وکړي چي بل غوښتنلیک وکړئ، که تاسي IPAT په خپل استیناف کي بریالي نه وئ، وزیر به موافقه ونه کړي چي تاسي بل غوښتنلیک وکړئ.

## 5.3 لومړنی مرکه څه ده؟

1.5.3 کله چي لومړنی مرکه مو تکمیله کړه، تا نه به پوښتنه وشي، د نورو شیانو په منځ کي ، ځیني لندې پوښتنې په اړه د

(i) آیا تاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوئ، که داسي وي نو، عمومي شرطونه چي غوښتنلیک بنسټ تشکیلوي.
(ii) ستاسي هویت،
(iii) ستاسي ملیت،
(iv) ستاسي اصلي د زېږېدلو هېواد، دایمي استوګنځی،
(v) هېواد (آیرلینډ) ته ستاسي د سفر لار، د سفر وسایل مو چي استعمال کړي دي د شخص تفصیل سره چي تاسي سره یې آیرلینډ ته په سفر کي مرسته کړې.
(vi) دلیلونه چي ولې تاسي آیرلینډ ته راغلئ.
(vii) هېواد (آیرلینډ) ته ستاسي د خول یا موجودیت لپاره قانوني اساس.

2.5.3 همداسي تاسي نه به پوښتنه وشي چي تصمیم لرئ چي تاسي د نړیوال خوندیتوب پروسه کي شامل شئ. **(3.3 او 4.3 برخې وګورئ)**

3.5.3 دغه لومړنی مصاحبه ، که ضرورت او ممکنه وي، د یو ژباړونکي په مرسته به اجرا شي.

4.5.3 د دغې لومړنۍ مصاحبې اسناد به د هغه مامور له خوا وساتل شي چې اجرا کړې يې ده. دا به بېرته تاسي ته ولوستل شي او تاسي به دا فرصت ولرئ چې په دغه اسناد کې اصلاحات چې ته ورته ضرورت لرئ پکې وکړئ. تاسي نه به وغوښتل شي چې دا اظهارنامه لاسليک کړئ چې هغه معلومات چې تاسي ورکړې دي او هغه اصلاحات او بدلونونه چې تاسي کړي دي صحيح دی او تائيد کړئ. دا ډېره مهمه ده چې دغه بيان په ځير سره ولولئ څو باوري شئ چې هغه ټول اړوند معلومات چې تاسي چمتو کړي وو ځای شوي دي. دا ستاسي مسؤليت دی چې د مصاحبې په موده کې وبينئ غلط نقل او غلط پوه شوي نه ياست. تاسي ته به بيا وروسته د دغې منل شوې مصاحبې يوه کاپي درکړل شي.

5.5.3 د دغې لومړنۍ مصاحبې پسې، که چېرته ستاسي غوښتنليک پيدا شو قبول به شي، تاسي ته به اجازه درکړ شي ترڅو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک د غوښتنليک د فورمه په ډکولو سره به ورکړئ.

**6.3 آيا له ما څخه به د ګوتو نخښې او نور بايوميتريک معلومات اخيستای شي؟**

1.6.3 IPO به ستاسي بايوميټريک معلومات واخلي. داد ګوتو نخښې او د تصويرونو د اخيستلو په ګډون دي. دا ستاسي د هويت د جوړولو په هدف او دا چې تاسي په هر حال تاسي پخوا د نړيوال خونديتوب کوم غوښتنليک د EU په قراردادي هېوادو کې ورکړی وي. (**10برخه** وګورئ) دا معلومات به نورو ډېټابېسونو سره پرتله شي (د EURODAC په ګډون او ويزا ګانې) څو باوري شي چې آيرلينډ د مسؤليت منوونکي هېواد په توګه ستاسي غوښتنليک و وارزوي.

د ګوتو نخښې به يوازې د يو شخص نه چې عمر يې له 18 کلو لږ وي د مور او پلار او يا مسؤل کاهل په موجوديت کې يا، که د اجرا وړ وي، يو شخص چې د TUSLA له خوا ټاکل شوی وي. ماشوم او د کورنی په نماينده ګې به غوښتنليک کوي او د پروسې په اوږدو کې به د غوښتنليک کوونکي استازيتوب کوي

**7.3 آيا زما د نړيوال خونديتوب د پروسې په اړه به ماته ليکلی معلومات را ورسېږي؟**

1.7.3 د دغه کتابګوټي سره به د نړيوال خونديتوب د پوښتنليک لپاره د غوښتنليک فورمه درکړل شي کوم چې بايد تکميل او بېرته IPO ته ورکړ شي. تاسي بايد پوښتنليک دIPO له خوا په ټاکلې نيټې او وخت بېرته ورکړئ.

<u>**که چېرته تاسي ونه شوای کړای چې پوښتنليک په ټاکلې نيټې ورکړئ، دا به معلومه شي چې تاسي د خپل غوښتنليک د ارزونې د همکارۍ په کار کې پاتې راغلئ. په دی اړه مهرباني وکړئ د4.4 برخه او 2.8 برخه وګورئ.**</u>

2.7.3 دا سپارښتنه کېږي چې تاسي د غوښتنليک له ډکولو مخکې حقوي مشورې لاسته راوړی.

**8.3 کله چې زه خپل د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنليک ورکوم د څه شي ضرورت دی چې زه يې له ځانه سره راوړم؟**

1.8.3 تاسي له ځانه سره هر اسناد چې تاسي يې خپل واک کې لرئ کله چې IPO ته غوښتنليک ورکوې را يې وړئ. دا عبارت دي له

- **پاسپورټ (پاسپورټونه)** - دا شامل دي د ستاسي له پاسپورټ، او ستاسي د ماندیني پاسپورټ او / یا کوم تړاو لرونکي چې په آیرلینډ کې دي (که عملي وي) . دا له IPO سره مرسته ده چې ستا عمر، هویت او ملیت تعین کړي. که آیرلینډ ته ستا د سفر په ټولو برخو کې تاسې کوم غلط پاسپورټ استعمال کړی وي نو تاسې به هغه هم راوړې.

- **نور کوم د سفر اسناد** - دا شامل دي له د سفر ټکټونو او بورډنګ پاسونو، تر هغې چې دا په هغه نوم نه ؤ صادر شوي چې په پاسپورټ او یا ملي هویت اسناد چې سفر لپاره استعمال شوي.

- **نور اسناد** - دا شامل دي له تذکرې (د هویت کارډونو) پیدایښت/ واده/ د ښوونځي تصدیقونه، غړیتوب کارډونه او ستاسي ادعا پورې اړوند نور اسناد.

2.8.3 تاسي به IPO ته **ټول موجود اسناد** چې ستا غوښتنلیک **ژر تر ژره** حمایه کړي. تاسي به هغه له ځانه سره IPO ته راوړئ کله چې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ورکوئ که تاسي ونه شو کړی چې دا وکړئ، تاسي باید هغه ژر تر ژره له پخوا او یا د ستاسي د نړیوال خوندیتوب مصاحبې څخه مخکې چمتو کړئ. که چیرته تاسي د دغو غوښتنو په پوره کولو کې پاتې راغلئ ، تاسي باید IPO ته د وخت په چوکاټ کې چې تاسي ته در کول کیږي نور اضافي اسناد ستاسي نړیوال خوندیتوب مصاحبې ته چمتو کړئ.

3.8.3 د اړوندو شرایطو په مطابق، **د اسنادو په چمتو کولو کې ناکامي ته** به د نړیوال خوندیتوب د پروسې سره ستاسي د همکارۍ په کار کې پاتې راتګ په څېر وکتل شي. د دې په اړه مهرباني وکړئ **د4.4 برخه او 2.8 برخه وګورئ**.

**9.3 د مؤقت اوسېدو تصدیق (TRC) څه شی دی آیا زه به یې لاس ته راوړم؟**

1.9.3 کله چې تاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوئ او که و مو کتل چې غوښتنلیک مو قبلېدو وړ دی د لومړني د نوم لیکنې پروسې په توګه تاسي به د مؤقت اوسېدو تصدیق (TRC) ترلاسه کړئ. TRC په آیرلینډ کې ستاسي د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د تسلیمولو ښکارندویی دی.

2.9.3 TRC د هویت کارډ **نه** دی او ستاسي د هویت ثبوت نه دی خو دا هغه شخصي تفصیلات لري چې تاسي IPO ته چمتو کړي دي، ستاسي د نوم، زیږولو نېټه، ملیت، همدارنګه ستاسي تصویر په ګډون.

3.9.3 TRC نوی کېدای شي، د وزیر ملکیت ګڼل کیږي او تاسي به کله چې وزیر یې وغواړي وزیر ته یې تسلیم کړئ. ستاسي هغه وخت باطل کیږي چې ستاسي هېواد (آیرلینډ) ته ننوتلو او د اوسېدو اجازه د یو خوندیتوب غوښتنلیک ورکوونکي په څېر ترلاسه کړئ، اعتبار یې لغوه کیږي.

4.9.3 لطفاً باوري اوسئ چې TRC مو نوې ده دا ښیي چې تاسي په هېواد (آیرلینډ) کې د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک په هدف د اوسېدو اجازه لرئ.

**10.3** **څه به وي که چېرته زه معلول یا د خاصي پاملرنې وړ یم؟**

1.10.3 لطفاً IPO ته څومره ژر چې امکان ولري ستاسې د مصاحبې لپاره د خاصې پاملرنې د ضرورتونو په اړه ووایئ. تاسې همدارنګه باید IPO په دغه ورځ چې تاسې غوښتنلیک ورکوئ د کومو خاصو ضرورتونو په اړه خبر کړئ. که عملي وه، IPO به کوښښ وکړي چې هر معقول ضرورت ته چې تاسې خبر کړی دی د اجرا بنه ورکړي.

**11.3** **که چېرته زه په توقیف او یا زندان کې یم د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ورکولای شم؟**

1.11.3 که چېرته تاسې په هېواد (آیرلینډ) کې په توقیف او یا زندان کې یاست د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکولای شئ. تاسې یوازې کولای شئ د ګورنر یا والي یا د قضایی تاسېساتو (د نهاد) له لارې چېرته چې توقیف کې یاست، د خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکولای شئ. تاسې د ګورنر یا والي دفتر سمدلاسه خبر کړې چې د خوندیتوب لپاره غوښتنلیک ورکوم. د ګورنر یا والي دفتر سمدلاسه به د IPO سره ضروري ترتیبات ونیسي چې ستاسې غوښتنلیک په جریان کې واچوي.

2.11.3 IPO به د زندان او یا توقیف څخه غوښتنلیک ته د ارزونې او تصمیم لپاره د لومړیتوب لار جوړه کړي.

**12.3** **هغه شرایط کوم دي چې په کې د نړیوال خوندیتوب یو غوښتنلیک ورکوونکی توقیف کېدای شي؟**

1.12.3 د مهاجرت یو مامور او یاد ګارډا سیوخنا ( Garda Siochana)یو غړی کولای شي بې له کومې ګواهۍ څخه که چېرته دوی له معقول دلیل سره یو غوښتنلیک کوونکی ونیسي چې غوښتنلیک کوونکی:

(i) عامه امنیت او عام نظم ته په هېواد (آیرلینډ) کې تهدید وي،

(ii) هېواد (آیرلینډ) نه دباندې یو جدي غیر سیاسي جرم یې کړی وي.

(iii) د هغه یا د هغې د هویت د تصدیق لپاره معقول کوښښونو نه کول،

(iv) د هېواد (آیرلینډ) پرې ښودلو اراده بې له قانونه بل هېواد ته ننوتلو هڅه،

(v) عمل یا هڅه یې کړی وي چې لاندې حالاتو کې خراب عمل وکړي –

- هېواد (آیرلینډ) کې اشخاصو ته د نړیوال خوندیتوب ورکولو لپاره منظومه
- د سفر مشترکې ساحې ته د هر ترتیب نیول **(10.2 برخه وګورئ)** یا

(vi) بې له معقول عذر څخه –

- د هغه یا هغې هویت یا د سفر اسناد یې له منځه وړی وي، یا
- د هویت د جعلي، تبدیل، او تعویض شوو اسنادو لرونکی وي.

2.12.3 که تاسي نیول شوي یاست د هرې پورته یاد شوې مسئلې، تاسي به د توقیف ټاکل شوي ځای ته ولېږل شئ. یو توقیف شوی شخص څومره چې ژر کېدای شي، د ولسوالۍ محکمې ته به وړاندې شي، چې شخص ته جزا تعین چې تر 21 ورځو پورې به په توقیف کې وساتل شي، او یا به ازاد شي د حالاتو پورې اړه لري. د توقیف موده وخت تر وخته تر21 ورځو تر مودې پورې نوې کېدای شي یا نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک تر تصمیمه پورې. یو شخص چې توقیف کې وي د مقرراتو لاندې حق لري چې د قانوني استازي سره مشوره وکړي، او د ژباړونکي مرستې د قانوني استازي سره د مشورې او یا په محکمه کې د ښکاره کېدو (تللو) لپاره تر لاسه کړي.

**13.3 څه به پېښ شي که چېرته زه د 18 کلنۍ نه د لږ عمر متعلقین لرم؟**

1.13.3 هغه یو/یوه د آیرلینډ استوګن نه دي، د18 کالو کم یو پر نورو متکي ماشوم داسي انګېرل کېږي چې هغه به ستاسي په غوښتنلیک کې داخلېږي. دغه احتمال د اجرا وړ دی چې ستاسي د غوښتنلیک کولو په وخت کې ماشوم په آیرلینډ کې حاضر ؤ که نه.

2.13.3 د دې لپاره چې تاسي نړیوال خوندیتوب غوښتنه کوئ، داسي انګېرل کېږي چې تاسي د خپلو متعلقینو ماشومانو له خوا چې هغوي د آیرلینډ تابعیت نه لري. او

(a) د غوښتنلیک ورکولو په وخت کې، په هېواد (آیرلینډ) کې حاضر ؤ او له 18 کلو عمر څخه کم دی.

(b) د غوښتنلیک ورکولو په وخت کې، په هېواد (آیرلینډ) کې زېږېدلی دی.

(c) چې له 18 کلو عمر څخه کم دی او هېواد (آیرلینډ) ته داخل شي په دا سې حال کې چې ته درخواست کوونکی یې.

3.12.3 که چېرته تاسي نړیوال خوندیتوب د پاره درخواست کوئ او پر نورو متکي ماشومان لرئ د درخواست کولو په وخت کې له ځانه سره IPO ته یې راولئ.

3.13.4 **مهم: که چېرته ستاسي ماشوم ستاسي د نړیوال خوندیتوب د پاره د درخواست د کولو څخه وروسته زېږېدلی وي، او یا ستا کوم متعلق هېواد (آیرلینډ) ته ستاسي د درخواست د کولو څخه وروسته را رسېږي، تاسي به ماشوم/ ماشومان سمدلاسه IPO ته راولئ.**

**14.3 زه حقوقي مشورې چېرته لاسته راوړی شم؟**

1.14.3 تاسي حق لرئ چې د نړیوال خوندیتوب ته د غوښتنلیک ورکولو لپاره د یوه قانوني استازي سره مشوره وکړئ. تاسي د حقوقي مرستو د بورډ (LAB) د خدمتونو مستحق یاست. کوم چې به

(i) ستاسي د غوښتنلیک د ملاتړ لپاره حقوقي مرستي او مشورې چمتو کوي.

(ii) تاسي ته به د نړیوال خوندیتوب ته د پوښتنلیک د ځیني نورو شرایطو په ګډون چې تاسي د وزیر څخه په هېواد (آیرلینډ) کې د پاتي کېدو د اجازې د غوښتلو په اړه مشوره وکړئ.

(iii) ستاسي د نړیوال خوندیتوب مصاحبي د تیاریو او وزیر ته د کوم لیکلي امدرک کي مرسته وکړي.

(iv) ستاسي د غوښتنلیک په اړه د منفي تصمیم په صورت کي، او د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو محکمي (IPAT). ته د مدارکو چمتو کېدو لپاره به تاسي سره مرسته وکړي.

2.14.3 د . (IPAT) لپاره د تماس تفصیلات د دغه سند په **ضمیمه** کي تنظیم شوي دي.

3.14.3 که تاسي د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو محکمي (IPAT) مرستي نه غواړئ تاسي به په خپل مصرف د قانوني استاځیتوب د خدمتونو لټه وکړئ. که تاسي غوره کړئ چي د قانوني استازی په شخصي مصرف مشوره وکړئ تاسي باید باوري شئ چي هغه راجستر شوی او د وکیل په توګه تمرین کړي وي او په هېواد (آیرلینډ) کي یو تمرین کوونکي بیرسټر (د مدافع وکیل) وي

### 15.3 آیا زه کولی شم چي د نړیوال خوندیتوب لپاره خپل غوښتنلیک بېرته واخلم؟

1.15.3 تاسي کولای شئ چي د نړیوال خوندیتوب لپاره خپل غوښتنلیک هر وخت د نړیوال خوندیتوب د مامور د راپور له چمتو کولو څخه مخکي بېرته واخلئ. تاسي دا درخواست IPO ته د بېرته اخیستلو خبرتیا سره اخیستلی شئ. خبرتیا باید ستاسي له ټول نوي پته، ستاسي د مراجعي شمېره او لاسلیک ولري. که تاسي متعلق ماشومان چي ستاسي په غوښتنلیک کي ځای شوي وي د هغو تفصیلات باید هم ستاسي د بېرته اخیستلو خبرتیا کي ځای کړئ.

2.15.3 ستاسي د غوښتنلیک بېرته اخیستلو اغېزه به دا وي چي IPAT درخواست به تاسي ته برابر نه وي او وزیر به ستاسي د مهاجرت اظهار نامه او ضمني خوندیتوب رد کړي، سربیره پر دي، لطفاً په یاد ولرئ چي وزیر به دا په هر حالت د کتني لاندي رانه ولي چي د پاتي کېدو اجازه ورکړي. او که نه تاسي کوم بل بنیاد لرئ چي په هېواد (آیرلینډ) کي پاتي شئ، تاسي احتمال لري چي د شړلو د حکم د پېشنهاد کولو په خطر کي شئ.

3.15.3 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د بېرته اخیستلو څخه مخکي باید تاسي د حقوقي مشورو په لټه شئ چي تاسي د خپلي فیصلي په نتایجو پوره پوه شوي یاست.

## 4 مه برخه
## مرکه او ارزونه

**1.4 زه د نړیوال خوندیتوب لپاره په مرکې کې د څه شي انتظار کولای شم؟**

1.1.4 تاسي ته به د نړیوال خوندیتوب مصاحبې د نیټې، وخت او ځای په اړه **د IPO له خوا لیکلی** معلومات درکړل شي . ستاسي مصاحبه به محرمانه وي. که تاسي نارینه یا ښځینه مرکه کوونکی یا/ او ژباړونکی غوښتی وي IPO چېرته چې ضروري او ممکن وي تنظیم به يي کړي.

2.1.4 ستاسي مصاحبه ستاسي موکه ده چې له IPO سره مخامخ خبرې وکړئ او دا چې تاسي ولې هېواد پرې ښود پوره لاملونه ذکر کړي وئ چې ولې اصلي/ پخوانی د زېږېدلو هېواد دایمي ټاټوبی مو پرې ښود او تاسي ولې هلته له بېرته ستنېدو څخه ویرېږئ. دا ډېره مهمه ده چې تاسي په دغه مصاحبه کې برخه واخلئ، کوم چې مونږ یي حساسه او څومره چې کېږي بیا باوري کوو. دا ډېره مهمه ده چې تاسي د هغه څه په اړه چې پېښ شوي دي په ریښتیني طریقه پوره معلومات ورکړئ، او له چا او څه څخه تاسي ویرېدلي یاست، که چېرته تاسي خپل اصلي/ د زېږېدلو، پخواني دایمي ټاټوبی هېواد ته ستانه شئ.

3.1.4 مونږ به تاسي سره په داسي ژبه مصاحبه وکړو چې تاسي ته منطقي وي او ښایي چې پوه شئ او په کومه چې تاسي خبرې کوئ. د مصاحبې یو لیکلی اسناد به د نړیوال خوندیتوب مامور له خوا جوړ او تاسي ته به ولوستل شي. تاسي نه به وغوښتل شي چې د مصاحبې د سند هر مخ لاسلیک کړئ څو تائید شي چې ورکړل شوی معلومات صحیح دی.

4.1.4 دا ډېره مهمه ده چې تاسي داسي ثبوت یا معلومات چمتو کړئ چې تاسي خپل بیان د مصاحبې په ترڅ کې حمایه (که وخته څخه ممکن وي) کړئ. که تاسي نور ثبوتونه لرئ او غواړئ چې د مصاحبې نه وروسته یي تسلیم کړئ، او د IPO له خوا شرح شوي موده کې تسلیم یي کړئ.

5.1.4 مونږ به د خاص جنسیتي معلوماتو او زیان منني چې تاسي په خپل غوښتنلیک یا د ارزونې په پروسه کې بیان کړي تر غور لاندې لاندې ونیسو.

4.1.6 **د خوندیتوب په مصاحبه کې به له تاسي نه په مستقیم ډول د موضوعګانو په باره کې سوالونه ونه پوښتل شي. ستاسي د خوندیتوب په مصاحبه کې به ستاسي د خوندیتوب په غوښتنلیک تمرکز کېږي.** سربیره پردې که چېرته داسي موضوع ( مثلاً ستاسي د کورنی شرایط) دا به د نړیوال خوندیتوب مامور له خوا په لیکلي ډول سند شي. که چېرته IPO تصمیم نیسي چې تاسي ته به نړیوال خوندیتوب په دې به غور وشي چې آیا تاسي ته به نورو شرایطو د پاتې کېدو اجازه درکړ شي، کوم اړوند معلومات چې د خوندیتوب غوښتنلیک د پروسې په ترڅ کې چمتو شوي وي په خپل وخت به تر غور لاندې ونیول شي.

**2.4 آیا زه کولای شم چې د خپل نړیوال خوندیتوب مصاحبې د ملاتړ لپاره له ځان سره څوک راولم؟**

1.2.4 ستاسي مصاحبه به په محرمانه توګه سر ته ورسېږي، ستاسي قانوني استازی کولای په مصاحبه کې برخه واخلي که تاسي د حقوقي مرستو له بورډ څخه مرسته تر لاسه کوئ، تاسي د حقوقي استازی سره وګورئ چې هغوي ګډون کولای شي او که نه. په عام ډول بل هیڅوک نه شي کولای چې برخه واخلي، مګر چې تاسي د 18کلو نه کم عمر لرئ کله چې ستاسي ولي یا د TUSLA د ماشوم او کورني موسسې ا ستازی باید برخه واخلي.

2.2.4 هغه څوک چې تاسي سره ملتیا کوي به ونه شي کړای چې ستاسې پر ځای کومې پوښتنې ته ځواب ووایي.

3.2.4 که چېرته تاسي غواړئ یو حقوقي استازی له ځانه سره راولئ. هغه به اجازه ولري چې مصاحبه مشاهده کړي. ستاسي حقوقي استازی ته به د مصاحبې په پیل او پیل کې فرصت ورکول کېږي چې ځیني هغه نقطو ته چې هغوي یې ضروري ګڼي اشاره وکړي. خو هغوي به ونه شي کولای چې کومې پوښتنې ته ځواب ووایي.

**3.4 څه به پېښ شي که چېرته زه مصاحبې ته لاړ نه شم او یا مصاحبې ته په حاضریدوکې پاتې را شم؟**

1.3.4 تاسي دنده لرئ چې د ارزوني د پروسې سره فعاله همکاري وکړئ، مصاحبې یوازې د ناروغانو یا نورو **استثنایی** دلیلونو لپاره ځنډېدای شي. که تاسي فکر کوئ چې تاسي کومه ستونزه لرئ او مصاحبې ته راتلای نه شئ نو **څومره چې ژر کېدای شي** IPO ته خبر ورکړئ. تاسي نه توقع کېږي چې ستاسي له ډاکټر ( جي پي یا مشاور) څخه د کومې ناروغې طبي شواهد د مصاحبې څخه مخکې IPO ته چمتو کړئ.

2.3.4 که تاسي په خصوصي مصاحبه کې په ټاکلې نېټه او وخت کې ګډون ونه کړئ، <u>له هغه وخته په 3 کاري ورځو کې دننه</u> IPO به اقدام وکړي چې ستا غوښتنلیک د هغو معلوماتو پر بنسټ چې تاسي تر دغه وخته د خوندیتوب په پروسه کې تسلیم کړي دي وارزوي. په بل عبارت، تاسي فرصت له لاسه ورکړه تر څو موضوعګانې په مصاحبه کې شرح کړئ او درخواست به د پوښتنلیک او د نورو اسنادو پر بنسټ چې تاسي د مصاحبې د ټاکل شوي وخت څخه مخکې تسلیم کړي وو وارزول شي.

**4.4 آیا زه دنده لرم چې د غوښتنلیک د کړنلارې سره مرسته وکړم او د پاتې را تلو به یې څه نتیجه وي؟**

1.4.4 دا ستاسي دنده چې ستاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک په ارزونه کې فعاله همکاري وکړئ.

2.4.4 ستاسي دنده چې همکاري وکړئ ډېره پراخه او هر اړخیزه ده او شامل د ضرورت

(i) چې د رښتیا له مخې وي ژر یې تسلیم کړئ، ټول ضروري معلومات منطقي او عملي وي چې ستاسي غوښتنلیک ته ماهیت وبخښي (دا شامل دی په اظهاراتو، اسنادو چې په واک کې مو دي چې ستاسي غوښتنلیک کې د مهمو عناصرو په اړه دي) او

(ii) چې ستاسي د  غوښتنلیک په ارزونه کې او د هر استیناف په ټاکلو کې همکاري وکړي.

3.4.4 همدا رنګه تاسي نه هیله کېږي چې د ټولو نورو موافقو سره توافق وکړئ کوم چې د 2015 نړیوال خوندیتوب مصوبې کې په دغه اړه راغلي دي، مهرباني وکړئ **8مه برخه** وګورئ.

4.4.4 که چېرته وزیر په دې ګومان وي

(i) ستاسي  غوښتنلیک د ارزوني د همکارۍ په دنده کې تاسي ناکام یاست . یا

(ii) دا چې تاسي خپله دنده نقض (څخه سرغړونه کړي) کړه ترڅو د وزیر د رضا نه پرته هېواد (آیرلینډ) ترک کړی یا د پرې ښودلو کوښښ مو وکړیا

(iii) دا چې تاسي خپله دنده مو نقض کړه ترڅو د وزیر د ستاسي له پتې نه خبر کړئ او پتې له بدلون څخه ژر تر ژره خبر کړئ ، یا

(iv) دا چې تاسي خپله دنده د اطلاع سره د توافق سره نقض کړه چې تاسي څخه یې غوښتي وو:

- د هېواد (آیرلینډ) په یوه مشخصه ولسوالۍ یا ځای کې استوګنه وکړئ

او

- د مهاجرت مامور ته په مشخصو وقفو، یا په یو مشخص ګارډا شیخانا (Garda Siochana) سټېشن کې.

وزیر به د دغه نظر لیکلي اطلاع درکړي او تاسي به د <u>د 10 کاري ورځو دننه</u> په ځواب کې خپلې مشاهدې چمتو کړئ. تاسي نه به وغوښتل شي چې خواهش لرې چې درخواست ته ادامه ورکول تایید کړئ او ستاسي د همکارۍ دنده به در یاده کړي.

5.4.4 که چېرته

(a) تاسي ځواب ورنه کړئ

لاندې ملاحظه ستاسي د ځواب.

(b) وزیر به فیصله وکړي چې تاسي د خوندیتوب د پروسې سره همکار نه یاست،

ستاسي د غوښتنلیک ارزونه به د هغه معلوماتو پر بنسټ وشي چې تاسي پخوا هغه وخت تسلیم کړی ؤ.

**5.4 د ارزونې غوره طرزالعمل څه دی، د شخص د مصاحبې په ګډون؟**

1.5.4 IPO به ستاسې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک څیړنه وکړي چې تصفیه شي:

- لومړی، دا چې تاسې د مهاجرت موقف ته وړ یاست، او، که نه.
- او که نه نو آیا تاسې د ضمني خوندیتوب وړ یاست،

2.5.4 پروسه به عادي لاندینیو ته اړتیا لري

- **د شخص مصاحبه**
- د غوښتنلیک ارزونه د هغه معلومات چې تاسې لیکلی یا په مصاحبه تسلیم کړی دی او
- د ارزونې په نتیجو د یوه راپور ترتیبول دغه راپور به د موندنو او سپارښتنو په هر صورت تاسې د نړیوال خوندیتوب دواړه ډولونه ته مستحق یاست او که نه.

**خصوصي مصاحبه**

3.5.4 خصوصي مصاحبې څخه اراده د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې او ادعا لپاره ستاسې د پوره معلوماتو تصدیقول دي. ماندینه / زوجي سره په عمومي ډول جلا مصاحبه کیږي.

4.5.4 په مصاحبه کې، به تاسې

(i) په صفا او دقیق ډول شرح کړئ چې تاسې ولې نړیوال خوندیتوب غواړئ،

(ii) په صفا او دقیق ډول شرح کړئ چې تاسې ولې د خپلو متعلقینو په اړه نړیوال خوندیتوب غواړئ، که عملي وي،

(iii) د خاصو حالاتو او ستاسې د متعلقینو په اړه ټول معلومات چمتو کړئ، په خاص ډول ولې تاسې او ستاسې متعلقینو په اړه معلومات چې ولې تاسې نه شئ کولای خپل اصلي هېواد یا د پخوانی اوسېدنې ځای ته بېرته ستانه شئ.

5.5.4 دا ستاسې دنده چې په پوره ډول همکاري وکړئ او پوره ډول ریښتیني واوسئ. دغو ته پاتې کېدل ستاسې اعتبار اغېزمن کوي **او په نتیجه کې تاسې سره به د ستاسې د غوښتنلیک په ارزونه کې همکاري نه کیږي (پورته 4.4.4او 5.4.4 فقرې وګورئ).**

6.5.4 یو مصاحبه کوونکی د مصاحبې په اجرا کې چې هغه یې ضروري وګڼي، داسې وکړي چې ستاسې له متعلقینو سره کوم چې ستاسې په غوښتنلیک کې دي مصاحبه وکړي.

7.5.4 د دې لپاره چې په یوه مصاحبه کې مناسبې اړیکې یقیني شي د یوه ژباړونکي په شتون کې به اجرا شي، که چېرته اړینه او ممکن وي.

8.5.4 یو ژباړونکی مجبور دی چې د مصاحبې محرمانه طبیعت مراعات کړي، او ورته اجازه نشته چې افشأ، بحث، استعمال، او یا کوم معلومات چې د هغه یا د هغې د دندې په اجرا کې راټول شوی دی بل چا ته یې انتقال کړي.

9.5.4 تاسي سره به یو مصاحبه کوونکی یو مصاحبه وکړي چې هغه ته د هغه چا په اړه چې د نړیوال خوندیتوب په لټه کې دي روزنه ورکړ شوې ده او ستاسي د هېواد ستاسي خپل اصلي هېواد ستاسي د پخوانۍ اوسېدنې ځای په اړه مفصل معلومات په لاس کې لري.

10.5.4 د مصاحبې یو لیکلی /چاپ شوی سند د مصاحبه کوونکی له خوا ساتل کېږي. تاسي به فرصت ولرئ چې مصاحبې سند تکرار کړئ او له تاسي څخه به وغوښتل شي چې هر مخ لاسلیک کړئ څو تایید شي چې ستاسي د مصاحبې دقیقه نمونه ده. **که چېرته تاسي په دې باور یئ چې ځنې شیان په دې نمونه کې دقیق نه دي، تاسي مصاحبه کوونکی مستقیماً خبر کړئ، او تاسي ته به فرصت درکړل شي چې دا د مصاحبې په ترڅ کې روښانه شوی دی.**

11.5.4 تاسي به په لیکلې ډول IPO ته مدارک ور کړئ چې ستاسي غوښتنلیک په اړه د ټولو موادو ارزونه وکړي. د غوښتنلیک اړوند نور کسان هم باید داسي وکړي، کېدای شي UNHCR هم. دا غوره ده چې داسي مدارک د مصاحبې نه پخوا ورکړل شي. IPO به دغسي ټول مدارک چې په مصاحبه کې او مخکې له مصاحبې ورسپارل شوي وي یا چمتو شوي وي او د غوښتنلیک د راپور تکمیلولو نه مخکې تسلیم شوي وي په نظر کې ونیسي.

12.5.4 یوه خصوصي مصاحبه هغه وخت باطلېږي چې د نړیوال خوندیتوب مامور په دې عقیده وي چې

(i) لاسته راغلي شواهد ښایي چې درخواست کوونکی یو شخص دی چې باید ورته د مهاجرت اعلامیه ورکړل شي،

(ii) درخواست کوونکی، چې د 18 کلو نه کم عمر لري د داسي کم عمر او بلوغیت کچه یوه مصاحبې ارزونه به اغېزمنه وړاندې لاړه نه شي، یا

(iii) درخواست کوونکی تیار نه دی او مصاحبه ورسره نه شي کېدای، د نه تحمل حالاتو لرونکی دی چې د هغه / هغې د کنټرول څخه بهر دي.

**ستاسي د غوښتنلیک ارزونه او د سپارښتنو چمتو کول**

**6.4 زما د مصاحبې څخه وروسته څه کیږي؟**

1.6.4 آی پي او IPO به ستاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک اړوند معلومات تر کتنې لاندې ونیسي او د دې پر بنسټ به سپارښتنې چمتو کړي.

**7.4 د نړیوال خوندیتوب لپاره زما د غوښتنلیک ممکنه نتایج څه دي؟**

1.7.4 د نړیوال خوندیتوب لپاره مامور به ستاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره په غوښتنلیک په اړه د سپارښتنو په ګډون به یو لیکلی راپور ارائه کوي. سپارښتنه به یو د لاندې څخه وي:

(i) چې تاسي ته د مهاجرت اعلامیه درکړل شي،

(ii) چې تاسي ته د مهاجرت اعلاميه درنه کړل شي، خو د ضمني خونديتوب اعلاميه درکړل شي،

(iii) تاسي ته به نه د مهاجرت او نه به د ضمني خونديتوب اعلاميه درکړل شي.

2.7.4 که تصادفي داسي سپارښتنه وشي چې تاسي ته نه مهاجرت او نه هم د ضحمني خونديتوب اعلاميه درکړل شي، د نړيوال خونديتوب لپاره د افسر راپور به هم يو د ډېرو ليدل شوي لاندې موندنې ولري:

(i) چې ستاسي غوښتنليک داسې مسئلې برسېره کړي چې ستاسي د نړيوال خونديتوب وړتيا سره اړوند نه دي او يا لږ اړوند دي،

(ii) چې تاسي غير ثابت ، ضد و نقيص، نا احتماله يا ناکافي څرګندوني کوم چې د نړيوال خونديتوب لپاره ستاسي غوښتنليک د ادعا لپاره مطلوب وي ښکاره قانع کوونکې نه دي.

(iii) دا چې تاسي پاتې راغلئ څو بې له کوم منطقي دليله خپل غوښتنليک ډېر ژر ورکړئ تر دې چې تاسي فرصت درلود چې منطقي او عملي واى،

(iv) دا چې تاسي د نړيوال خونديتوب لپاره ضرورت نه لرئ حال دا چې خونديتوب تاسي خپل اصلي/د زېږېدلو، پخواني دايمي تابوبى هېواد په يوه برخه کې درلود،

(v) دا چې ستاسي خپل اصلي/د زېږېدلو، پخواني دايمي تابوبى هېواد د خوندي هېواد په توګه پېژندل شوى دى.

فرض کړئ چې ستاسي راپور يو د پورتنيو موندنو څخه د يو لرونکی وي. دIPAT ته درخواست يا د استيناف (اپيل) لپاره کم وخت د پلې کېدو وړ دى. د استيناف (اپيل) د پروسې لپاره **5مه برخه** وګورئ.

3.7.4 د پروسې د طرزالعمل د يوې برخې په توګه، که تاسي د مهاجرت او نه به د ضمني خونديتوب اعلاميه مستحق په توګه ونه پېژندل شي، وزير به وګوري چې آيا کوم بل دليل شته چې تاسي ته په هېواد (آيرلينډ) کې د پاتې کېدو اجازه درکړي. مهرباني وکړې **د 13 مې برخې 6.1 فقره وګورئ.**

4.7.4 وزير به تاسي او ستاسي قانوني استازي (که يې پېژني) ته به د نړيوال خونديتوب مامور له سپارښتنې خبر، د راجستر شوې پُستې له لارې درکړي. که سپارښتنه دا وي چې تاسي ته د مهاجرت موقف، تاسي يواځې د دغه واقعيت څخه خبر کړل شي.

که چېرته تاسي د مهاجرت حالت او د مهاجرت حالت او ضمني خونديتوب څخه رد شوي ياست ، تاسي ته به دا ولېږل شي:

(i) د سپارښتنې لپاره د دليلونو يوه شرح،

(ii) د راپور يوه کاپي چې سپارښتنه به پکې وي، يا

(iii) هغه معلومات چې IPAT ته دغه سپارښتنه څنګه استيناف يا اپيل شي.

5.7.4 که تاسي د نړیوال خوندیتوب مستحق و نه ګڼل شوئ، تاسي ته به هم یوه فیصله در ورسېږي چې آیا وزیر دا فیصله کړې ده چې تاسي ته د نورو شرایطو له مخې د پاتې کېدو اجازه درکړي، د دغې پرېکړې لپاره د دلیل شرح کوي.

6.7.4 کېدای شي تاسي به د نړیوال خوندیتوب د نه ورکړې د سپارښتنې په اړه IPAT ته د استیناف غوښتنه یا اپیل وکړئ (د مهاجرت موقف او یاد مهاجرت موقف او ضمني خوندیتوب) ، ستاسي د غوښتنلیک یا اپیل په اړه د IPAT فیصله، او د دې لپاره دلیلونه تاسي دواړو تاسي او ستاسي قانوني وکیل (که پېژندل شوی وي) ته خبر درکړ شي.

7.7.4 <u>تاسي د وزیر د فیصلې په اړه د استیناف غوښتنه یا اپیل نه شئ کولای چې د پاتې کېدو اجازه یې درکړې نه ده.</u>

8.7.4 کېدای شي تاسي به د نړیوال خوندیتوب د نه ورکړې د سپارښتنې په اړه د استیناف غوښتنه یا اپیل وکړئ او IPAT هغه هم تایید کړی وي، وزیر به هم بیا د نه پاتې کېدو اجازې د پرېکړې په اړه بیا کتنه یا بیا کتنه وکړي که چېرته تاسي کوم نوي معلومات د شرایطو د بدلون په اړه تسلیم کړي وي (د هغه فیصلې سره اړوند) څکه اصلي پرېکړه شوې وه. ( **5.13 فقره وګورئ) .**

**8.4 څه به پېښ شي که چېرته زما د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک په اړه د 6 میاشتو دننه سپارښتنې را نه ورسېږي؟**

1.8.4 که چېرته ستاسي د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک په اړه د 6 میاشتو دننه سپارښتنه را و نه رسېږي، وزیر به ستاسي د غوښتنې پر بنسټ تاسي ته معلومات چمتو کړي چې د اټکلي مودې په ترڅ کې به سپارښتنه تیارېږي.
خو ددغه تخمین له مخې IPO مجبور نه ده چې د دغې مودې په ترڅ کې سپارښتنه ترتیب کړي.

## 5 مه برخه
## استینافونه یا اپیلونه او نړیوال خوندیتوب

**1.5 آیا زه حق لرم چې ماته د نړیوال خوندیتوب د نه راکولو سپارښتنې او نورو سپارښتنو په خلاف اپیل یا د استیناف غوښتنه وکړم؟**

1.1.5 هو. که سپارښتنه دا شوې وي چې تاسې د کډوالۍ مستحق نه یاست، یا تاسې د ضمني خوندیتوب (ملاتړ) مستحق نه یاست، نو تاسې د هغه سپارښتنې د استیناف غوښته کولی شئ.

2.1.5 تاسو په لاندې حالتونو کې هم د یوې سپارښتنې د استیناف یا اپیل حق لرئ چې:

(i) ستاسې د خوندیتوب غوښتنلیک و نه منل شي، یا

(ii) تاسې ته اجازه در نه کړل شي چې د نړیوال ملاتړ لپاره بیا غوښتنلیک وسپارئ.

**2.5 زه اپیل یا د استیناف غوښتنه څنګه کولی شم؟**

1.2.5 تاسې باید د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته یو غوښتنلیک ولېږئ. کله چې مو خپله سپارښتنه تر لاسه کړه، نو تاسې ته به د استیناف فورمه درکړل شي، چې باید ډکه یې کړئ.

**3.5 د استیناف غوښتنه باید په څومره وخت کې وشي؟**

1.3.5 د اړوندو او ټاکلو شویو وختونو په اړه تفصیلي مالومات ستاسو له سپارښتنې سره یوځای ذکر شوي وي.

**4.5 آیا زه د خپل اپیل یا استیناف د قانوني استازیتوب حق لرم؟**

1.4.5 هو. تاسو باید د خپل استیناف یا اپیل په اړه له خپل قانوني استازي سره خبرې وکړئ. که قانوني استازی نه لرئ، کولی شئ د حقوقي مرستو له بورډ سره اړیکه ونیسئ. یا، کولی شئ په خپل لګښت یو شخصي وکیل وګومارئ چې له تاسو سره مرسته وکړي.

**5.5 زما استیناف یا اپیل به څومره ژر واورېدل شي؟**

1.5.5 د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه به له تاسو سره اړیکه ونیسي او دا مالومات به درکړي چې ستاسو اپیل یا استیناف به کله اورېدل کېږي.

**6.5 زه د اپیل یا استیناف بهیر په اړه نور مالومات له کومه ځایه لاسته راوړلی شم؟**

1.6.5 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو په تړاو د استیناف یا اپیلونو د بهیر په اړه مالومات د IPAT یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف د محکمې له وېبپاڼې (www.protectionappeals.ie) لاسته راتلی شي.

## 6 مه برخه
## د کډوالۍ یا ضمني خوندیتوب موقف اعلامیه

**1.6 د سپارښتنې له لاسته راوړلو وروسته څه پیښیږي؟**

1.1.6 که د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) سپارښتنه وکړي چې تاسو ته باید د کډوالۍ یا ضمني خوندیتوب اعلامیه درکړل شي، یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه د IPO منفي سپارښتنه رد کړي، نو وزیر به ژر تر ژره تاسو ته د کډوالۍ یا د ضمني خوندیتوب اعلامیه صادره کړي، چې هر یو یې لازم یا مناسب وي. دا لاندې له **1.6.4 مادې** سره تړلې موضوع ده.

2.1.6 که د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) دا سپارښتنه وکړي چې تاسو ته باید له دواړو اعلامیو یوه هم در نه کړل شي، او

(i) تاسو یې په اړه د استیناف غوښتنه یا اپیل و نه کړئ، یا،

(ii) تاسو اپیل وکړئ خو بریالي نه شئ،

نو وزیر به تاسو ته له دواړو اعلامیو یوه هم در نه کړي.

3.1.6 که تاسو د آیرلینډ تابعیت لاسته راوړئ نو د کډوالۍ یا د ضمني خوندیتوب اعلامیه به نوره په رسمي ډول د تطبیق وړ نه وي.

4.1.6 آن که د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) سپارښتنه وکړي یا د  نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه د اپیل په ځواب کې پرېکړه وکړي چې تاسو یو کډوال یاست، وزیر بیا هم په لاندې شرایطو او حالتونو کې تاسو ته د اعلامیې د نه درکولو پرېکړه کولی شي:

(i) که مناسب دلایل او شواهد موجود وي چې تاسو د هېواد (آیرلینډ) امنیت ته ګواښ پېښولی شئ، یا

(ii) تاسو د هېواد (آیرلینډ) ټولنې ته ګواښ پېښولی شئ، په داسې حال کې چې تاسو (د هېواد (آیرلینډ) دننه یا بهر) په یوه ځانګړي ډول جدي جرم کې د محکمې د وروستۍ پرېکړې پر اساس محکوم شوي یاست.

## 7 مه برخه
## د نړیوال خوندیتوب لاسته راوړلو په صورت کې ستاسو حقونه

**1.7 که زه نړیوال خوندیتوب لاسته راوړم نو کوم حقونه به ولرم؟**

2.1.7 کله چې تاسو د کډوالۍ یا ضمني خوندیتوب اعلامیه لاسته راوړئ، نو د نړیوال خوندیتوب د 2015م کال د لایحې پر بنسټ به تاسو لاندې حقونه ولرئ:

(i) چې د کار موندلو هڅه وکړئ او دنده لاسته راوړئ، چې په هر ډول کاروبار، سوداګرۍ یا کار کې ځان بښکېل کړئ او په هېواد (آیرلینډ) کې د آیرلینډ د یوه تبعه په څېر او په هماغه اندازه په ټولو برخو کې تعلیم او روزنې ته لاسرسی ولرئ،

(ii) چې د آیرلینډ اتباعو د حقونو او هغوی ته د ورته شرایطو پر اساس ورته روغتیایي خدمتونه او ورته ټولنیزې ګټې لاسته راوړئ،

(iii) چې په هېواد (آیرلینډ) کې تر **یوې مشخصې مودې** چې له دریو کلونو کمه نه وي، و اوسېږئ، او د اوسېدو دغه موده به د شرایطو پر بنسټ د غځېدو وړ وي، او

(iv) هېواد (آیرلینډ) ته او بهر د آیرلینډ د اتباعو په څېر د سفر حقونه او د سفر د اسنادو لرلو حق ولرئ.

## 8 مه برخه
## د نړیوال خوندیتوب په بهیر کې ستاسو حقونه او مسؤلیتونه

**1.8 د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک سپارلو بهیر کې زه کوم حقونه لرم؟**

1.1.8 که ستاسو قضیه د اروپایي ټولني د ډبلن قوانینو پر اساس نه څېړل کېږي، چې دا بیا ځیني بدیلې لارې چارې لري (په دې اړه **لسمه برخه** ولولئ)، نو تاسو د نړیوال خوندیتوب د یوه عارض په توګه لاندې حقونه لرئ:

(i) تاسو ته به د وزیر له خوا اجازه درکړل شي چې هېواد (آیرلینډ) ته د نړیوال خوندیتوب د دفتر (IPO) له لورې د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک د ارزوني او د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته د خپل اپیل پخاطر دننه او پاتې شئ. په دې اړه **2.1.8ماده** ولولئ.

(ii) تاسو، هغو حالتونو کې چې اړتیا وي او ممکنه وي، حق لرئ چې د مناسبو اړیکو او خبرو لپاره یو ژباړونکی لاسته راوړئ.

(iii) تاسو حق لرئ چې د حقوقي مرستو له بورډه حقوقي مشورې او مرسته وغواړئ. یا، که غواړئ، په خپل لګښت له شخصي قانوني استازي کار واخلئ.

(iv) تاسو حق لرئ چې له UNHCR (د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو کمیشنرۍ) سره اړیکې ونیسئ. د دغې ادارې د اړیکې شمېرې او مالومات د **ضمیمو** په برخه کې موندلی شئ.

(v) تاسو کولی شئ د خپل غوښتنلیک په تړاو وزیر ته اسناد وسپارئ. دغه اسناد باید په لیکلي ډول وسپارل شي.

(vi) تر هغو چې ستاسو د خوندیتوب پر غوښتنلیک غور کېږي، د هرکلي او یوځای کېدو اداره (RIA) ښایي تاسو ته د استوګنې امکاناتو برابرولو وړاندیز وکړي (د خوړو او نورو لګښتونو په ګډون).. د دغه وړاندیز منل به ستاسو له خوا د کورنیو قوانینو په پام کې نیولو سره تړاو ولري، دغه قوانین د www.ria.ie له وېبپاڼې موندلی شئ. د RIA د اړیکو مالومات د **ضمیمو** په برخه کې موندلی شئ.

(vii) ستاسو د غوښتنلیک ټول مالومات به محرم ساتل کېږي. خو مالومات مو ښایي نورو حکومتي څانګو لکه د کډوالو چارو ادارو، د آیرلینډ پولیسو او ځایي چارواکو په ګډون د آیرلینډ حکومتي ریاستونو او ادارو سره چې شاید له تاسو سره په اړیکه کې وي شریک شي. دا به له دغو ادارو سره مرسته وکړي چې هېواد (آیرلینډ) ته د بهرنیو اتباعو د ننوتلو او ایستلو یا تبعید د قوانینو د تطبیق په ګډون خپل فعالیتونه پر مخ یوسي. ځیني مالومات ښایي له نورو هېوادونو سره چې د اروپایي ټولني د ډبلن قوانین پلې کوي هم شریک شي.

(viii) تاسو ته به د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)، د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې یا د وزیر له خوا په لیکلي بڼه ستاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک په تړاو د لیدژمنو (د لیدو ټاکل شوي وختونه)، مرکو، پرېکړو یا بلې کومې خبرتیا په اړه ستاسو له خوا پر ورکړل شوې پتې خبر درکړل شي.

2.1.8 ستاسو د لندمهاله استوګني سند يا تصديق پاڼه به په عمومي ډول ترهغو د اعتبار وړ وي چې تاسو د نړيوال خونديتوب د عارض موقف له لاسه ورکړئ، د مثال په ډول هغه وخت چې وزير تاسو ته د کډوالۍ يا ضمني خونديتوب اعلاميه در نه کړي يا تاسو د اروپايي ټولنې د ډبلن قوانينو پر بنسټ له هېواده (آيرلينډه) بهر ولېږدول شئ.

**2.8 د نړيوال خونديتوب غوښتنليک بهير کې زه کوم مسوليتونه لرم؟**

1.2.8 د نړيوال خونديتوب د عارض په توګه ستاسو مسؤليتونه په لاندې ډول دي:

(i) تاسو بايد د هېواد (آيرلينډ) قوانين يا نور شرايط چې پر تاسو تحميلېږي په نظر کې ونيسئ.

(ii) تاسو مسؤليت لرئ چې د خپل غوښتنليک د ټولو اړخونو د بشپړې ارزونې او د کوم ممکنه استيناف يا اپيل په صورت کې همکاري وکړئ چې په دې کې د خپل غوښتنليک د ملاتړ يا تصديق لپاره له ځان سره د شته ټولو مالوماتو او اسنادو سپارل او شريکول هم شامل دي.

(iii) که تاسو خپله پته بدله کړه، نو په سملاسي ډول **بايد د نړيوال خونديتوب دفتر (IPO) ته، په ليکلي بڼه**، د خپلې نوې پتې تفصيلي **خبر ورکړئ.** دا کار بايد آن په هغه حالت کې هم وکړئ چې که د هرکلي او يوځای کېدو اداره (RIA) تاسو د استوګنې يوه نوي ځای ته ولېږدوي. **په دغه کار کې پاتې راتلل له قانون سرغړونه بلل کېږي.**

(iv) د نړيوال خونديتوب له دفتر (IPO) يا د نړيوال خونديتوب د استيناف له محکمې سره په ټولو اړيکو او مخابرو کې **بايد تاسو په واضح ډول خپل نوم، پته، مليت او د شخص د پېژندګلوی شمېره** چې ستاسو د استوګنې پر موقتي سند يا تصديق پاڼې ليکل شوي، **ذکر کړئ.**

(v) **تاسو بايد** د وزير له اجازې پرته په داسې حال کې **له هېواده (آيرلينډه) و نه وځئ يا د وتلو هڅه و نه کړئ** چې ستاسو پر غوښتنليک لا غور کېږي. د وزير له اجازې پرته له هېواده (آيرلينډه) وتل **له قانونه سرغړونه بلل کېږي.**

(vi) **تاسو حق نه لرئ چې د دندې موندلو هڅه وکړئ يا دنده ترسره کړئ، يا په کوم کاروبار، سوداګرۍ يا مسلک کې د ګټې لپاره ګډون وکړئ.** دنده ترسره کول يا سوداګري کول **له قانونه سرغړونه بلل کېږي.**

(vii) تاسو يا ستاسو قانوني استازی بايد تاسو ته د نړيوال خونديتوب دفتر (IPO) يا د نړيوال خونديتوب د استيناف محکمې له خوا د ورکړل شويو **ټولو اسنادو کاپياني يا نسخې** وساتئ.

(viii) له تاسو **شايد وغوښتل شي چې** د هېواد (آيرلينډ) **په يوې مشخصې ولسوالۍ يا سيمې کې و اوسېږئ يا پاتې شئ.** په دغه کار کې پاتې راتلل **له قانونه سرغړونه بلل کېږي.**

(ix) له تاسو **شايد وغوښتل شي چې په ټاکلو شويو وختونو کې** د کډوالو چارو يوه افسر، يا د آيرلينډ پوليسو يوې حوزې ته **راپور ورکړئ.** په دغه کار کې پاتې راتلل **له قانونه سرغړونه بلل کېږي.**

(x) تاسو بايد د خپل غوښتنليک په تړاو د مالوماتو ورکولو پر مهال تل **رښتوني** و اوسئ او په دغه کار کې پاتې راتلل **له قانونه سرغړونه بلل کېږي.**

(xi) تاسو باید په خپل پوښتنلیک کې ټول هغه مالومات ذکر کړئ چې د وزیر له خوا تاسو ته د پاتې کېدو حق درکولو پرېکړې سره تړاو لري. تاسو ښايي هغه ټول مالومات هم شریک کړئ چې ستاسو د غوښتنلیک د سپارلو او ستاسو د خوندیتوب غوښتنلیک د ارزولو په تړاو د راپور جوړولو موده کې تاسو ته د وزیر له خوا د پاتې کېدو حق درکولو پرېکړې سره تړاو لري. تاسو باید وزیر ته د خپل شته حالت او شرایطو د هغه بدلون په اړه هم په سملاسي ډول خبر ورکړئ چې ښايي پر دې موضوع د وزیر له پرېکړې سره تړاو ولري. د پاتې کېدو د اجازې په اړه مالومات له **13مې برخې** موندلی شئ.

(xii) تاسو باید ټول اړوند مالومات چې تاسو ورته لاسرسی لرئ، په کنترول کې مو دي یا یې لاسته راوړلی شئ، د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته، څومره ژر چې لازمه یا ممکنه وي، وسپارئ.

**مهم**

**2.2.8** تاسو باید د نړیوال خوندیتوب دفتر (*IPO*) یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته (هر یو ته چې لازم وي) د **خپل قانوني استازي تفصیل (نوم، پته، د ټیلیفون شمېرهاو نور) او د قانوني استازي د حالت یا شرایطو د بل کوم بدلون مالومات، ژر تر ژره**، وسپارئ. په دغه کار کې پاتې راتلل ښايي ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک په تړاو د مخابرو او پرېکړو په اړه له قانوني استازي څخه تاسو ته د مشورې یا مرستې لاسته راوړلو کار ستونزمن کړي.

## 9 مه برخه
## بې سرپرسته ماشومان

**1.9 که زه د يوازې يا بې سرپرسته ماشوم په توګه د نړيوال خونديتوب غوښتنليک وسپارم نو څه پېښيږي؟**

1.1.9 کله چې تاسو ماشوم وګڼل شئ (له 18 کلونو ټيټ)، او داسې مشر درسره نه وي چې ستاسو د پاملرنې او خونديتوب مسؤليت په غاړه واخلي، نو تاسو TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداري ته معرفي کېږئ.

2.1.9 له تاسو ښايي وغوښتل شي چې د نړيوال خونديتوب له دفتر (IPO) سره د عمر د ارزونې يوه مرکه وکړئ. د عمر ارزونې مرکه ستاسو د سفر د ترتيباتو، د مور او پلار د ځای ځايرې، د تعليم کچې او عمومي پوهې په تړاو د ځينو بنسټيزو حقايقو د مالومولو پخاطر ترسره کېږي. هغه افسر چې له تاسو سره مرکه کوي به بيا دا پرېکړه کوي چې آيا دوی تاسو له 18 کلونو ټيټ ګڼي که نه، که اړتيا وي نو په دې بهير کې به **د TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداري همکاري هم وغوښتل شي.**

3.1.9 که تاسو TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداري ته معرفي شوئ نو دغه اداره به ستاسو مسؤليت په غاړه اخلي او دا پرېکړه به کوي چې آيا د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنليک سپارل ستاسو په ګټه دي او که ستاسو په قضيه کې نور غوراوي د پلي کېدو وړ دي، لکه له کورنۍ سره بيا يوځای کېدل يا د کورنۍ لټول.

**2.9 که TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداره زما لپاره د نړيوال خونديتوب غوښتنليک وسپاري نو طرزالعمل يې څه دی؟**

1.2.9 که TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداري هغوی سره د شته مالوماتو او قانوني مشورو پر اساس دا وپتيله چې ستاسو په استازيتوب د نړيوال خونديتوب غوښتنليک سپارل ستاسو په ګټه دي، نو دوی به د TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداري له يوه کارکونکي يا له بل دغه ډول اړوند کس سره د ليدو نېټه وټاکي، چې ستاسو غوښتنليک چمتو شي او د مرکې او ازموينې بهير کې ستاسو استازيتوب او له تاسو سره مرسته وشي.

**3.9 د قانوني مرستو بورډ ته له 18 کلونو د ټيټ عمر د يوه ماشوم د معرفي کولو طرزالعمل څه ډول دی؟**

1.3.9 TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداره کولی شي ستاسو د قانوني استازيتوب لپاره له LAB سره اړيکه ونيسي. د TULSA – د ماشوم او کورنۍ له اداري سره به مرکې ته ستاسو د ملتيا لپاره ځانګړي ترتيبات په پام کې نيول کېږي.

## 10 مه برخه
## د اروپايي ټولنې د ډبلن قوانين

**1.10** **د اروپايي ټولنې د ډبلن قوانين څه دي؟**

1.1.10 د اروپايي ټولنې د ډبلن قوانين د دې چارې د مالوملو پخاطر چې دولت په یوه ګډون کونکي هېواد کې د دريم هېواد د يوه تبعه يا بې وطنه کس له خوا د نړيوال خونديتوب لپاره د سپارل شوي غوښتنليک د ارزولو مسؤليت لري، د معيارونو او ميکانيزمونو د تعينولو پخاطر قانوني بنسټ او د طرزالعمل قوانين برابروي.

2.1.10 کله چې تاسو د نړيوال خونديتوب په دفتر (IPO) کې د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنليک وسپارئ نو د ډبلن بهير په اړه به نور مالومات هم درسره شريک شي.

3.1.10 که پر تاسو د اروپايي ټولنې د ډبلن قوانين د پلې کېدو وړ وي، تاسو ښايي بل ګډون کونکي هېواد ته ولېږدول شئ چې د نړيوال خونديتوب غوښتنليک مو هلته و ارزول شي.

## 11 مه برخه
## په خپله خوښه د بېرته تلو غوراوي

**1.11 آيا زه په خپله خوښه بېرته خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدم د تلو غوراوی لرم؟**

1.1.11 ستاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک د ارزوني په بهير کې تاسو هر مهال، يا ستاسو د غوښتنليک له ردېدو وروسته، دا غوراوی لرئ چې په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ، بېرته ولاړ شئ. که تاسو د خونديتوب له غوښتنليکه لاس په سر شئ، بيا به هم په هغه مرحله کې دا غوراوی ولرئ چې په خپله خوښه خپل هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ، بېرته ولاړ شئ.

2.1.11 که وزير تاسو ته ستاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک په اړه د خپلې رد پرېکړې خبر درکړي نو هغه مهال به تاسو ته په ځانګړې توګه په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ، د بېرته تلو د غوراوي په اړه خبره درکړل شي. هغه مهال د دې غوراوي د کارولو پخاطر بايد تاسو د وزير له خبرتيا وروسته په پنځو ورځو کې دننه په ليکلې بڼه وزير ته خبر ورکړئ. ستاسو د پرېکړې ليک به تاسو ته د هغو کسانو په اړه چې تاسو بايد ورسره په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ د بېرته تلو په اړه اړيکه ونيسئ، مالومات درکړي.

3.1.11 که تاسو پرېکړه وکړه چې په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ بېرته ستنې‌ږئ، نو و به کولی شئ چې د کډوالی له نړيوالي اداري (IOM) څخه مشوره او مرسته وغواړئ. د دغې ادارې د اړيکو شمېرو او مالوماتو لپاره لطفاً د **ضميمو** برخه ولولئ.

4.1.11 د کډوالی نړيواله اداره (IOM) تاسو سره د سفر د لازمو اسنادو لاسته راوړلو کې مرسته کولی شي، او دغه راز کولی شي له آيرلينډه ستاسو اصلي هېواد ته د سفر د مالي لګښتونو پوره کولو کې هم له تاسو سره مرسته وکړي. د دې ترڅنګ، تولو ستنې‌دونکو لپاره د يوځای کې‌دو يوه کوچنۍ بوديجه يا صندوق په نظر کې نيول شوی چې د تعليم، مسلکي روزنې او يا کاروبار او سوداګرۍ برابرولو په ګډون د عايد لاسته راوړلو فعاليتونو لګښت پوره کولو کې مرسته وکړي.

5.1.11 که تاسو دا پرېکړه وکړئ چې په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ د بېرته تلو غوراوی نه منئ، نو وزير به ستاسو د ايستلو يا تبعيد امر صادر کړي او له هېواده (آيرلينډه) به ستاسو د ايستلو چارې سمبالې شي. که تاسو د ايستلو امر و نه منئ نو په هېواد (آيرلينډ) کې به د پاتې کې‌دو هېڅ قانوني بنسټ و نه لرئ.

6.1.11 د عدالت او برابرۍ رياست هم په مخامخ ډول د اداري مرستو او نورو همکاريو په ګډون له هغو کسانو سره مرسته کوي چې مرسته يې غوښتې وي او غواړي چې په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدل ستانه شي.

7.1.11 په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته / يا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ د بېرته تلو غوراوي کارول دا ګټه لري چې دغه پرېکړه تاسو ته فرصت درکوي چې په راتلونکي کې بيا هېواد (آيرلينډ) ته راشئ، که غواړئ چې په قانوني بنسټ دغه کار وکړئ.

له بله پلوه، که د یو کس د ایستلو امر شوی وي نو په قانوني ډول اړ دی چي له هېواده (آیرلینډه) ووځي او له هېواده (آیرلینډه) بهر پاتې شي (تر هغو چي د ایستلو یا تبعید امر یې نه وي لغوه شوی).

## 12 مه برخه
## نور مالومات

**1.12 د نړیوال خوندیتوب لپاره د سپارلو شویو غوښتنلیکونو د لومړیتوب ټاکلو طرزالعمل څه ډول دی؟**

1.1.12 وزیر ښایي د نړیوال خوندیتوب یوه غوښتنلیک ته لومړیتوب ورکړي په هغه صورت کې چې وزیر دغه کار ضروري وګڼي او د نړیوال خوندیتوب د دغه ډول غوښتنلیکونو د کتنې په بهیر کې عدالت او موثریت په پام کې ونیسي.

2.1.12 د لومړیتوب ټاکلو کې وزیر ښایي لاندې مسایل په نظر کې ونیسي:

(i) آیا عارض د پېژندګلوۍ اسناد لري که نه، او که نه یې لري، نو آیا د دغه ډول اسنادو د نشتوالي په اړه یې مناسب توضیحات وړاندې کړي که نه.

(ii) آیا عارض داسې مناسب توضیحات وړاندې کړي چې د هغه دا ادعا ثابته کړي چې هېواد (آیرلینډ) لومړی هغه خوندي هېواد دی چې دی ورته له خپل اصلي هېواده/ یا له هغه هېواده چې پخوا په کې اوسېده رسېدلی.

(iii) آیا عارض په دې اړه بشپړ او واقعي توضیحات وړاندې کړي چې ده هېواد (آیرلینډ) ته څنګه سفر وکړ او څنګه دغه ځای ته ورسېد.

(iv) آیا غوښتنلیک د هېواد (آیرلینډ) له پولې پرته بل ځای کې سپارل شوی، آیا عارض داسې مناسب توضیحات وړاندې کړي چې وښیي ولې هغه یا هغې د 1996 کال د کډوالی قانون د اتمې برخې له مخې د هېواد (آیرلینډ) پولې ته په رسېدو سملاسي د نړیوال خوندیتوب لازم غوښتنلیک نه دی سپارلی، یا دا چې غوښتنلیک په داسې شرایطو کې سپارل شوی وي چې دغه شرایط یا حالتونه په هېواد (آیرلینډ) کې د عارض له رسېدو وروسته پېښ شوي وي.

(v) که عارض د خپل غوښتنلیک په تړاو د پېژندګلوۍ یا نورو اسنادو کې له جعل کار اخیستی وي، یا یې اسناد له منځه وړي وي، آیا هغه د دغه کار د کولو مناسب دلیل او توضیحات لري.

(vi) آیا عارض د خپل غوښتنلیک په تړاو په ښکاره ډول ناسم شواهد وړاندې کړي، یا یې په لیکلي یا ژبني ډول نور ناسم مالومات وړاندې کړي.

(vii) آیا عارض، له مناسب دلیل پرته، له هېواده (آیرلینډه) د ایستل کېدو د سپارښتنې له خبرتیا وروسته غوښتنلیک سپارلی.

(viii) آیا عارض د خوندیتوب په بهیر کې همکاري کړې او خپل مسؤلیتونه یې په پام کې نیولي دي.

(ix) آیا عارض داسي کس دی چي TULSA – د ماشوم او کورنی اداري یي د پاملرنې او خوندیتوب مسؤلیت په غاړه اخیستی دی.

(x) آیا عارض، له مناسب دلیل پرته، هېواد (آیرلینډ) کې د دننه کېدو او هلته د پاتې کېدو د اجازې په تړاو د ځینو شرایطو پوره کولو کې پاتې راغلی دی.

**2.12 له هغو مالوماتو سره به څه کېږي چې زه يې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته سپارم؟**

1.2.12 کله چې تاسو خپل شخصي مالومات د نړیوال خوندیتوب دفتر ته وسپارئ، نو دفتر مسولیت لري چې دغه مالومات محرم او خوندي وساتي.

2.2.12 د 1988 او 2003 کلونو د مالوماتو د خوندیتوب قوانینو پر بنسټ تاسو د ځان په اړه د سپارل شویو شخصي مالوماتو د لاسرسي، سمون او له منځه وړلو حق لرئ.

3.2.12 د ځینو استثناتو پرته، هغه شخصي مالومات چې د آیرلینډ د تابعیت ورکولو او کډوالی خدمتونو اداره یي له ځانه سره لري، پرې د 2014م کال د مالوماتو د ازادۍ قانون د پلي کېدو وړ دی.

4.2.12 د 2014م کال د مالوماتو د ازادۍ قانون هر چاته قانوني حق ورکوي چې:

(i) د عامه او حکومتي ادارو سره موجود مالومات لاسته راوړي.

(ii) د خپل ځان په اړه رسمي مالومات سم یا اصلاح کړي، که دغه مالومات بشپړ نه وي، ناسم وي یا تېرایستونکي وي.

(iii) د هغو پرېکړو په اړه توضیحات لاسته راوړي چې دوی اغېزمنوي.

5.2.12 د 2014م کال قانون د عامه خلکو دا حق په ډاګه کوي چې دوی د عامه ګټو او د اشخاصو د محرمیت حق په رڼا کې رسمي مالوماتو ته څومره چې ممکنه وي لاسرسی ومومي.

6.2.12 د مالوماتو د خوندیتوب په اړه د لا نورو مالوماتو لپاره د نړیوال خوندیتوب د دفتر ویبپاڼه www.ipo.gov.ie وګورئ.

## 13 مه برخه
## د پاتې کېدو اجازه

**1.13** **زه د پاتې کېدو اجازې لاسته راوړلو لپاره څنګه غوښتنليک سپارلی شم؟**

1.1.13 کله چې تاسو د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنليک سپارئ، نو هماغه مهال بايد هغه ټول مالومات هم وسپارئ چې ښايي تاسو سره وي او شايد د وزير له خوا تاسو ته د پاتې کېدو اجازې ورکولو يا نه ورکولو سره تړاو ولري، که تاسو ته د کډوال موقف يا ضمني خونديتوب نه وي درکړل شوی. که داسې څه مالومات درسره وي چې تاسو غواړئ وزير يې په نظر کې ونيسي، نو بايد ژر تر ژره د هغې په اړه د نړيوال خونديتوب دفتر ته خبر ورکړئ.

2.1.13 تاسو بايد دغه مالومات د نړيوال خونديتوب د پوښتنليک په اړوندې برخې کې ذکر کړئ. تاسو بايد نور ټول ملاتړي اسناد چې فکر کوئ له غوښتنليک سره مو تړاو لري (د مثال په ډول تذکره / د پيداينت تصديق يا نکاح خط / د واده تصديق، د شخصيت په تړاو مالومات / تصديق، نور تصديقونه يا د تعليم او کار نور اسناد، وغيره) وسپارئ. که دغه اسناد له ځانه سره نه لرئ، کولی شئ وروسته يې تر هغه مهاله وسپارئ چې د نړيوال خونديتوب دفتر ستاسو د نړيوال خونديتوب د غوښتنليک په اړه وزير ته راپور چمتو کوي.

3.1.13 د دې ترڅنګ، که مو په شخصي حالت يا شرايطو کې کوم داسې بدلون راغی چې د وزير له خوا تاسو د پاتې کېدو پرېکړې سره ښايي تړاو ولري نو بايد د نړيوال خونديتوب دفتر ته تازه مالومات وسپارئ.

4.1.13 لطفاً په ياد ولرئ چې د نړيوال خونديتوب دفتر له خوا له تاسو سره د ترسره کېدونکي مرکې موخه تاسو ته د پاتې کېدو اجازې نه بلکې ستاسو د نړيوال خونديتوب د غوښتنليک ارزونه ده. مرکه کونکی مامور به له تاسو څخه د همدې موضوع په اړه پوښتنې کوي او په مشخص ډول به د نورو مسئلو په اړه پوښتنې نه کوي چې که څه هم ستاسو د نړيوال خونديتوب له غوښتنليک سره ښايي تړاو و نه لري، خو شايد د وزير له خوا تاسو ته په هېواد (آيرلينډ) کې د پاتې کېدو يا نه پاتې کېدو حق درکولو سره تړاو ولري. خو، که دغه ډول مسئلې په مرکه کې مطرح شوې، نو د مرکه اخيستونکي له خوا به په ليکلي ډول ثبتې شي او وزير به ورته تاسو ته د پاتې کېدو يا نه پاتې کېدو حق درکولو پرېکړې پر مهال د غور لپاره لاسرسی ولري، که تاسو ته د کډوالۍ موقف يا ضمني خونديتوب در نه کړل شي.

**2.13** **کوم مالومات د وزير له خوا په هېواد (آيرلينډ) کې د پاتې کېدو يا نه پاتې کېدو اجازې ورکولو پرېکړې سره تړاو لري؟**

1.2.13 وزير به پر هغو ټولو اړوندو مالوماتو غور کوي چې تاسو سپارلي، چې په دې کې ستاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک سره سپارل شوي اړوند مالومات او بله هره خبره چې تاسو د لومړنۍ مرکې او د شخصي نړيوال خونديتوب مرکې پر مهال کړې وي شامل دي.

2.2.13 وزير بايد ستاسو د کورنۍ او شخصي حالت او ستاسو د شخصي او کورنۍ ژوند د درناوي حق په نظر کې ونيسي او بايد لاندې مواردو ته لازم پام وکړي:

(i) له هېواد (آيرلينډ) سره ستاسو د اړيکې او تړاو بنه، که موجوده وي،

(ii) د بشر دوستی په تړاو پاملرنی،

(iii) په هېواد (آیرلینډ) کې دننه او بهر ستاسو شخصیت او رویه (په جرم کې د محکومیت په ګډون)

(iv) د ملي امنیت او عامه نظم پاملرنه

(v) او د عامه ګټو نوری پاملرنی.

3.2.13 وزیر به ستاسو له خوا د اجبار د ممنوعیت یا مخنیوي په اړه هم ستاسو له خوا یادې شوی مسئلې په نظر کې ونیسي، (په دې اړه **2.7.1 ماده** ولولئ).

**3.13 که ماته د پاتې کېدو اجازه را نه کړل شي نو څه پېښېږي؟**

1.3.13 که تاسو د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته د خوندیتوب خپل غوښتنلیک په اړه د صادرې شوې سپارښتنې په اړه د اپیل نه کولو پرېکړه وکړئ، او وزیر تاسو ته د پاتې کېدو اجازه در نه کړي، نو تاسو نور نه شئ کولی چې هېواد (آیرلینډ) کې پاتې شئ. ستاسو TRC به نور اعتبار و نه لري او تاسو باید دغه تصدیق یا سند ژر تر ژره د نړیوال خوندیتوب دفتر ته بېرته وسپارئ.

2.3.13 تاسو به دا غوراوی ولرئ چې په خپله خوښه خپل اصلي هېواد / یا هغه هېواد ته ستانه شئ چې پخوا په کې اوسېدئ او که له هېواده (آیرلینډه) د وتلو پرېکړه مو وکړه نو تاسو باید د نړیوال خوندیتوب دفتر او د کورنی بیا یوځای کېدو ادارې (INIS) ته خبر ورکړئ.

3.3.13 که تاسو په خپله خوښه خپل اصلي هېواد / یا هغه هېواد ته چې پخوا په کې اوسېدئ د ستنېدو پرېکړه و نه کړه، نو وزیر به ستاسو د ایستلو یا تبعید امر صادر کړي چې له مخې به یې تاسو اړ یاست چې له آیرلینډه ووځئ او تر نامشخصې مودې پورې له هېواده (آیرلینډه) بهر و اوسئ.

**4.13 که ماته د پاتې کېدو اجازه راکړل شي نو څه پېښېږي؟**

1.4.13 که تاسو ته د پاتې کېدو اجازه درکړل شي نو یو لیک به ترلاسه کړئ چې په کې به په دې اړه تفصیلي مالومات ذکر شوي وي چې تاسو باید کوم ګامونه پورته کړئ او دا چې تاسو کوم حقونه او مسولیتونه لرئ.

**5.13 د پاتې کېدو حق ردېدولو پرېکړې (بیا کتنه) څه ډول کېږي؟**

1.5.13 تاسو د پاتې کېدو حق ردېدولو پرېکړې پر وړاندې اپیل نه شئ کولی.

2.5.13 که ستاسو په اړه د نړیوال خوندیتوب دفتر له خوا د نړیوال خوندیتوب سپارښتنه رد شي، تاسو به د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته د اپیل کولو د بهیر په اړه مالومات لاسته راوړئ. که تاسو د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته اپیل وکړئ خو دغه محکمه د نړیوال خوندیتوب دفتر منفي سپارښتنه تاید کړي، نو تاسو به د پاتې کېدو حق د بیا کتنې یوه فورمه لاسته راوړئ چې باید ډکه یې کړئ. تاسو ته به د فورمې د ډکولو او بېرته سپارلو د وخت په اړه مالومات په هماغه فورمه کې درکړل شوي وي.

3.5.13 که د وزیر له خوا تاسو ته د پاتې کېدو حق درکولو ابتدایي پرېکړې او د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې له خوا ستاسو د نړیوال خوندیتوب پر اپیل د پرېکړې ترمنځ موده کې که ستاسو حالت یا شرایط بدلون ومومي، په داسې ډول چې د وزیر له ابتدایي

پرېکړې سره تړاو ولري، نو تاسو باید د دغه بدلون په اړه، هر مهال چې خپله خبر شوئ، ژر تر ژره وزیر ته خبر ورکړئ.

4.5.13 که تاسو د وزیر له خوا تاسو ته د پاتې کېدو ابتدایي پرېکړې په اړه کوم مالومات سپارلي وي چې ښيي ستاسو حالت یا شرایطو بدلون موندلی، نو وزیر به خپلې ابتدایي پرېکړې ته، چې تاسو ته یې د پاتې کېدو اجازه نه ده درکړې، بیا کتنه کوي. وزیر به بیا هم هغه مسئلې چې پورته په **2.2.13 مادې** کې یادې شوې او نور هغه اضافي مالومات په نظر کې نیسي چې تاسو سپارلي وي. وزیر به د اجبار د مخنیوي په تړاو هم ستاسو له خوا ذکر شوې مسئلې په نظر کې نیسي.

5.5.13 ستاسو د پاتې کېدو اجازې پرېکړې له بیاکتنې وروسته وزیر کولی شي یا تاسو ته تر یوې مشخصې مودې پورې د موقتي پاتې کېدو اجازه درکړي او یا اجازه در نه کړي. تاسو ته به د وزیر د پرېکړې او د پرېکړې د دلایلو پهاړه په لیکلې بڼه خبر درکړل شي.

**6.13 که ماته د پاتې کېدو اجازه راکړل شي خو زه د نړیوال خوندیتوب دفتر له خوا د خوندیتوب سپارښتنې په اړه د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته د اپیل کولو پرېکړه وکړم نو څه پېښېږي؟**

1.6.13 تاسو بیا هم کولی شئ چې د کډوالو چارو د ثبت ځایي دفتر سره ځان ثبت کړئ څو په هېواد (آیرلینډ) کې ستاسو د پاتې کېدو اجازه عملي بڼه غوره کړي. خو، که تاسو د خوندیتوب پرېکړې پر وړاندې اپیل وکړئ، دا چې تاسو لا هم د نړیوال خوندیتوب عارض یاست، نو نه شئ کولی چې دنده پیل یا دندې ته دوام ورکړئ، یا په کاروبار، سوداګرۍ یا کوم مسلک کې ځان ښکېل کړئ، تر هغو چې د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته ستاسو د اپیل پایله یا نتیجه معلومه شوې نه وي.

**7.13 که د بیاکتنې له بهیر وروسته ماته د پاتې کېدو اجازه را نه کړل شي نو څه پېښېږي؟**

1.7.13 که تاسو ته د پاتې کېدو حق در نه کړل شي، نو نور نه شئ کولی چې هېواد (آیرلینډ) کې پاتې شئ. ستاسو TRC به نور اعتبار و نه لري او تاسو باید دغه تصدیق یا سند ژر تر ژره د نړیوال خوندیتوب دفتر ته بېرته وسپارئ.

2.7.13 تاسو به په خپله خوښه خپل اصلي هېواد / یا هغه هېواد ته د ستنېدو غوراوی ولرئ چې پخوا په کې اوسېدئ او که تاسو په خپله خوښه له هېواده (آیرلینډه) د وتلو پرېکړه وکړه نو باید د نړیوال خوندیتوب دفتر او د کورنۍ بیا یوځای کېدو ادارې (INIS) ته خبر ورکړئ.

3.7.13 که تاسو په خپله خوښه خپل اصلي هېواد / یا هغه هېواد ته د ستنېدو پرېکړه و نه کړه چې پخوا په کې اوسېدئ، نو وزیر به ستاسو د ایستلو یا تبعید امر صادر کړي چې له مخې به یې تاسو اړ یاست چې له هېواده (آیرلینډه) ووځئ او تر نامشخصې مودې له هېواده (آیرلینډه) بهر پاتې شئ.

## 14 مه برخه
## د کورنۍ بېرته یوځای کېدل

**1.14 د کورنۍ بېرته یوځای کېدل په څه معنا دی؟**

1.1.14 که وزیر تاسو ته د کډوالۍ موقف اعلامیه یا د ضمني خوندیتوب اعلامیه درکړي، تاسو کولی شئ، د اعلامیې له صادرېدو وروسته تر 12 میاشتو، وزیر ته غوښتنلیک وسپارئ چې ستاسو د کورنۍ **مشخصو** غړو ته اجازه ورکړي چې:

- هېواد (آیرلینډ) ته دننه او دلته و اوسېږي، که د غوښتنلیک سپارلو پر مهال بهر وي، یا
- هېواد (آیرلینډ) کې پاتې شي او دلته و اوسېږي، که د غوښتنلیک سپارلو پر مهال لا له وړاندې هېواد (آیرلینډ) کې وي.

**2.14 آیا د دې کار وخت محدود دی؟**

1.2.14 تاسو باید ځان لپاره د کډوالۍ اعلامیې یا د ضمني خوندیتوب د اعلامیې له لاسته راوړلو وروسته په **12 میاشتو** کې دننه، له خپلې کورنۍ سره د یوځای کېدو لپاره غوښتنلیک وسپارئ.

**3.14 د کورنۍ غړي څوک دي؟**

1.3.14 **د کورنۍ د غړو** تعریف ډېر سخت او جدي دی. د کورنۍ غړي، یعني:

(i) د کس ښځه / خاوند، په دې شرط چې په هېواد (آیرلینډ) کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک سپارلو پر مهال د دوی واده اعتبار لرلی وي،

(ii) د کس مدني ملګری، په دې شرط چې په هېواد (آیرلینډ) کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک سپارلو پر مهال د دوی مدني ملګرتیا اعتبار لرلی وي،

(iii) که کس له 18 کلونو کم عمر ولري او واده یې نه وي کړی، د هغه مور او پلار او د هغوی ماشومان چې له 18 کلونو کم عمر ولري او ودونه یې نه وي کړي، یا

(iv) د هغه کس ماشوم چې له کورنۍ سره د یوځای کېدو غوښتنلیک پر مهال یې عمر له 18 کلونو کم وي او واده یې نه وي کړی.

**4.14 زه باید د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک فورمې او پوښتنلیک کې کوم مالومات ذکر کړم؟**

1.4.14 کله چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارئ، نو له تاسو به وغوښتل شي چې د کورنۍ غړو په اړه اړوند مالومات په کې ذکر کړئ چې د کورنۍ دغه غړي به مو د تاسو له خوا د نړیوال خوندیتوب لاسته راوړلو په صورت کې د کورنۍ بېرته یوځای کېدو حق ولري (په دې اړه **3.14 ماده** ولولئ).

2.4.14 تاسو باید د کورنۍ غړو اړوند مالومات د نړیوال خوندیتوب پوښتنلیک کې ذکر کړئ.

3.4.14 دا ډېره مهمه ده چې تاسو د خپل غوښتنلیک او پوښتنلیک ډکولو پر مهال د خپلې کورنۍ د غړو ټول تفصیل ذکر کړئ، او اړوند اسناد لکه نکاح خط یا د واده تصدیق، تذکرې یا د پیدایښت سندونه وغیره وسپارئ.

**5.14 زه د کورنۍ بیا یوځای کېدو لپاره څنګه غوښتنلیک سپارلی شم؟**

1.5.14 که تاسو ته د کډوالۍ موقف یا ضمني خوندیتوب درکړل شوی وي او غواړئ چې د کورنۍ د یوه غړي لپاره د کورنۍ بیا یوځای کېدو غوښتنلیک وسپارئ چې په 3.14 ماده کې یې یادونه شوې، نو تاسو باید خپل غوښتنلیک په لیکلې بڼه د کورنۍ بیا یوځای کېدو ادارې (INIS) ته په لاندې پته وسپارئ:

**Family Reunification Unit**
**Irish Naturalisation and Immigration Service**
**13/14 Burgh Quay**
**Dublin 2**
**D02 XK70**

2.5.14 نور مالومات له www.inis.gov.ie وېبپاڼې موندلی شئ.

**په یاد ولرئ چې د کورنۍ بیا یوځای کېدو غوښتنلیک باید د کډوالۍ موقف یا ضمني خوندیتوب له لاسته راوړلو وروسته په 12 میاشتو کې دننه وسپارل شي.**

## 15 مه برخه
## ستاسو استوګنځای

**1.15** **د هرکلي / استوګنځي مالومات**

1.1.15 که تاسو د نړیوال خوندیتوب په دفتر کې نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک وسپارئ، ستاسو لومړني مالومات به واخیستل شي او بیا به تاسو د هرکلي او یوځای کېدو اداري (RIA) ته معرفي شئ چې دوی د حکومت له خوا د استوګنځي او هغو لپاره د خوړو اړوندو توکو چارو د مدیریت مسولیت هم لري چې د نړیوال خوندیتوب له بهیره تېرېږي.

2.1.15 که تاسو استوګنځي ته اړتیا ولرئ، نو ستاسو مالومات به واخیستل شي او تاسو ته به د یوه استوګنځي وړاندیز وشي. که تاسو دغه وړاندیز ومنئ، نو د هرکلي یوه مرکزه پورې به تاسو ته ترانسپورت هم درکړل شي، تاسو کولی شئ د هرکلي مرکز کې تر لنډې مودې و اوسېږئ – په عمومي ډول دغه موده تر دریو اوونیو ډېره نه وي.

3.1.15 د هرکلي په مرکز کې له یو لنډې مودې وروسته، تاسو بیا د استوګنځي یوه مرکز ته لېږدول کېږئ. د هغه مرکز د موقعیت تعین چې تاسو ورته لېږدول کېږئ، تاسو په خپله خوښه نه شئ کولی.

5.1.15 تاسو کولی شئ په هغه مرکز کې چې تاسو ورته لېږدول شوي یاست تر هغه مهال و اوسېږئ چې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ته مو په بشپړ ډول کتنه وشي (د اپیل په ګډون، که د تاسو له خوا اپیل شوی وي) یا تاسو کولی شئ په خپل لګښت په یوه شخصي استوګنځي کې د اوسېدو پرېکړه وکړئ.

6.1.15 لطفاً په یاد ولرئ چې که تاسو ځانته په خپله د استوګنځي امکانات وغیره برابر کړل، تاسو باید د نړیوال خوندیتوب دفتر ته د خپل ځای ځایري په اړه خبر ورکړئ.

7.1.15 د هرکلي یا د استوګنځي په یوه مرکز کې د استوګنځي وړاندیز دې پورې تړاو لري چې تاسو هر مهال د هغه مرکز کورني قوانین په نظر کې ونیسئ.

8.1.15 تاسو کولی شئ د RIA له لارې له رسمي استوګنځي څخه د لېږدېدو پرېکړه وکړئ او یوازې هغه مهال چې دغه اداره وکولی شي تاسو ته د بدیل استوګنځي امکانات برابر کړي.

9.1.15 نور مالومات کولی شئ د هرکلي او یوځای کېدو اداري له وېبپاڼې www.ria.gov.ie څخه لاسته راوړئ.

**ضمیمه**

## د اړیکو مالومات

**حکومتي او نورې اداري چې تاسو کولی شئ د خپل نړیوال خونديتوب د غوښتنليک په تړاو ورسره اړيکې ټينګې کړئ:**

| اداره | فعالیت |
| --- | --- |
| Irish Naturalisation and Immigration Service, Department of Justice and Equality. 13 – 14 Burgh Quay, Dublin 2.<br>D02 XK70<br><br>Telephone: +353 1 616 7700<br>Lo-Call:1890 551 500<br>Website: www.inis.gov.ie | د آيرلينډ د تابعيت ورکولو او کډوالی خدمتونو اداره (INIS) د پناه غوښتنې، کډوالی (د ويزو په ګډون) او د تابعت مسئلو په تړاو د عدالت او برابرۍ د وزير د اداري فعاليتونو پر مخ وړلو مسؤليت لري. دغه اداره به د کډوالی او پناه غوښتنې مسئلو په تړاو په ټوليز ډول د حکومت د تګلارې په کار کې هم اسانتيا راولي، چې په دغو برخو کې د لا ډېرو موؤثرو خدمتونو وړاندې کولو ته لاره هواره کړي. |
| International Protection Office<br>Irish Naturalisation and Immigration Service,<br>79-83 Lower Mount Street,<br>Dublin 2.<br>D02 ND99<br><br>Telephone: +353 1 602 8000<br>Fax: + 353 1 602 8122<br>Email: info@ipo.gov.ie<br>Website: www.ipo.gov.ie | د نړیوال خونديتوب دفتر (IPO) عمده دنده دا ده چې، د نورو دندو ترڅنګ، د 2015م کال د نړيوال خونديتوب قانون په تعقيب دا سپارښتنه وکړي چې آيا يو کس په هېواد (آيرلينډ) کې د نړيوال خونديتوب حق لري که نه. که د خونديتوب عارض دغه حق و نه لري، نو د نړيوال خونديتوب دفتر (IPO) دا هم په نظر کې نيسي چې آيا عارض ته بايد د نورو دلايلو پر بنسټ، چې له اجبار سره هم تړاو لري، په هېواد (آيرلينډ) کې د پاتې کېدو حق ورکړل شي که نه. |
| International Protection Appeals Tribunal 6/7 Hanover Street,<br>Dublin 2.<br>D02 W320<br><br>Telephone: +353 1 474 8400<br>Lo-Call: 1890 210 458<br>Fax: +353 1 474 8410<br>Email: info@protectionappeals.ie<br>Website: www.protectionappeals.ie | د نړیوال خونديتوب د استيناف محکمه (IPAT) عمده دنده دا ده چې د نړيوال خونديتوب دفتر (IPO) منفي سپارښتنو پر وړاندې د شويو اپيلونو په اړه پرېکړه وکړي. د اپيل چارې د نړيوال خونديتوب د استيناف محکمې (IPAT) د يوه غړي له خوا پر مخ وړل کېږي. |

| فعالیت | اداره |
|---|---|
| د هرکلي او یوځای کېدو اداره (RIA) د خوندیتوب عارضینو ته د استوګنځي امکاناتو برابرولو او نورو اړوندو خدمتونو وړاندې کولو د همغږۍ مسؤلیت لري. په دغو خدمتونو کې د خوندیتوب عارضینو لپاره د استوګنځي برابرول، روغتیایي خدمتونه، تعلیم او عامه ګټې شاملې دي. | Reception and Integration Agency.<br>P.O. Box 11487<br>Dublin 2 .<br><br>Telephone: + 353 1 418 3200<br>Fax: +353 1 4183271<br>Email: RIA_Inbox@justice.ie<br>Website: www.ria.gov.ie |
| د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو کمیشنري(UNHCR) دفتر په 1951م کال کې د کډوالو د ګټو خوندي کولو پخاطر جوړ شو. د UNHCR کارونه بشر دوستانه، ټولنیز او غیر سیاسي دي. د دې اداري عمده فعالیتونه کډوالو ته نړیوال خوندیتوب برابرول، د هغوی ستونزو ته پایښت لرونکي حل لارې لټول او هغوی ته د مادي مرستو برابرول دي. په خوندیتوب کې د اجبار مخنیوی یعنې په زوره د کډوال بېرته لېږل داسې یوه هېواد ته چې هغه په کې د ځورېدو د وېرې دلیل ولري شامل دی. داسې طرزالعملونه په پام کې نیول شوي چې له مخې یې په دواړو، لومړي پړاو او د اپیل په پړاو کې د غوښتنلیک د پروسیس په اړه UNHCR باخبره وساتل شي. UNHCR کولی شي په مرکو یا د اپیل محکمو کې ګډون وکړي یا د کوم غوښتنلیک په تړاو لیکلي سپارښتني وسپاري. | United Nations High Commissioner for Refugees.<br>102 Pembroke Road,<br>Ballsbridge,<br>Dublin 4.<br>D04 E7N6<br><br>Telephone: 01 631 4510<br>Website: www.unhcr.org |
| د کډوالی نړیواله اداره (IOM) پناه غوښتونکو او له اروپا بهر اقتصادي سیمې (EEA) غیر منظمو کډوالو ته چې غواړي په خپله خوښه خپل هېواد ته ستانه شي خو د بېرته تلو امکانات او یا د سفر اسناد نه لري محرمانه مرستې وړاندې کوي. | International Organisation for Migration.<br>116 Lower Baggot Street,<br>Dublin 2.<br>D02 R252<br><br>Freephone: 1800 406 406<br>Telephone: +353 1 676 0655<br>Email:  iomdublin@iom.int<br>Website: www.ireland.iom.int/ |

| فعالیت | اداره |
|---|---|
| په آیرلینډ کې د نړیوال خوندیتوب عارضین کولی شي د خوندیتوب غوښتنلیک چمتو کولو او د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته د اپیل کولو، که اپیل ته اړتیا وي، په برخه کې د همکارۍ لپاره د مدني حقوقي مرستو او مشورو لاسته راوړلو پخاطر غوښتنلیک وسپاري. | Legal Aid Board (Smithfield).<br>48/49 North Brunswick Street,<br>Georges Lane,<br>Dublin 7.<br>D07 PE0C<br><br>Telephone: (01) 646 9600<br>Fax: (01) 671 0200<br>Email:lawcentresmithfield@legalaidboard.ie<br><br><br>Legal Aid Board (Cork)<br>Popes Quay Law Centre,<br>North Quay House,<br>Popes Quay,<br>Cork<br>T23 TV0C<br><br>Telephone: + 353 21 455 16 86<br>Fax: +353 21 455 1690<br>Email:lawcentrecorknorth@legalaidboard.ie<br><br>Galway Law Centre (Seville House)<br>Seville House<br>New Dock Road<br>Galway<br>H91 CKVO<br>Telephone:  +353 91 562 480<br>Fax: +353 91 562 599<br>Email:lawcentresevillehouse@legalaidboard.ie |
| TULSA – د ماشوم او کورنۍ اداره د هغو جلا شویو ماشومانو د سملاسي او روانو اړتیاوو، لکه د استوګنځي، روغتیا او ټولنیزو برخو مسؤلیت لري چې د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي وي. | Team for Separated Children Seeking Asylum,<br>TUSLA-  Child and Family Agency<br>Sir Patrick Dun's Hospital,<br>Lower Grand Canal Street,<br>Dublin 2.<br>D02 P667<br><br>Telephone: +353 1 647 7000<br>Fax: +353 1 647 7008<br>Website: www.tusla.ie |

| اداره | فعالیت |
|---|---|
| The Irish Red Cross Society.<br>16 Merrion Square North,<br>Dublin 2.<br>D02 XF85<br><br>Telephone: +353 1 642 4600<br>Fax: +353 1 661 4461<br>Email: info@redcross.ie<br>http://www.redcross.ie | د آیرلینډ سور صلیب ژمن دی چې د خپلو رضاکارانو د شبکې له لارې هم په کور دننه او هم په نړیواله کچه بېړنۍ او بشر دوستانه مرستې ورسوي. |